منبع الجهاد

علمي ، جهادي ، سياسي خپرونه

که په ولس او کليوالو سيمو هوايي بمباري او راکتي حملی دوام و مومي موږ بې تفاوته نشو پاتې کيدای.

الحاج مولوي جلال الدين « حقاني »

دخوست په ښار کی له امنيتی ساتونکو پرته دوسلی په گرځولو بنديز لگول شوی او دا کار په ډيره ښه توگه عملي شوی دی

دخوست والي

الحاج عبدالقيوم خان

موږ داکوښښ کړی چې ټول ذهنيتونه په يوه اداري چوکاټ کې راشي او يوه داسی شورا جوړه شي چې دمنلو او پريکړو دعملي کولو قابليت ولری.

دخوست ولايت مرستيال

« ارمان »



داقتدار په جگړو کې وران شوي کابل

دجامعي مشر دجامعي خادم دی، په اسلام کی حکومت او مشري دباداري په معني نه بلکه دخدمت په معني ده.

مولانا ذاکري

په جګړه ځپلی کابل به هم کله دسولی کوتره وزرونه وغوړوي...؟

ديوی تاريخی روڼی جوړی تاريخی سندونه

بسم الله الرحمن الرحیم

الهي لارښووني

لوی خداي(ج) فرمايي :

ای مومنانو ! له زغم نه کارواخلی ،دباطل پرستانو په مقابله کی میړانه وښیی دحق د خدمت لپاره ملاتینګه وتړئ اوله الله (ج) نه ویریدونکي اوسی ، ښايي چی بری ومومی

(آل عمران ،۲۰۰ ایت)

منبع الجهاد

علمي، جهادي، سياسي خپرونه

احمد شاه ((وحدت))
Ahmad Shah (Vahdat)
A. K. P. O.

مؤسس: الحاج مولاناجلال الدين « حقاني»
دتأسيس كال: ١٣٦٨ هـ ش،١٤٠٩ هـ ق

پنځم كال: لومړی، او دوهمه گڼه -١٣٧٢ هـ ش ، عقرب - قوس -١٩٩٣ م - نومبر

دهيئت تحرير تر نظر لاندي

مكاتباتي پته

پوست بكس نمبر (١٠٣٣) يونيورستي
ټاون - پېښور
دتليفون نمبر(٨١٠٣٨٣)پېښور

بانكي پته

حبيب بانك، كنټ برانچ صدر رود خانگه
دحساب نمبر: ٢٠٥٥٩
پېښور پاكستان

په دې گڼه کې

شمير عنوان مخ

١–كه په ولسي خلكو او كليوالو سيمو...(پيغام).. (٢)
٢– حل دحقايقو او.......................(٣)
٣– ملت بايد له تحزب.......................(٦)
٤– موږ دير كوښښ وكړ چې.....................(١١)
٥– دخوست دمتحدي ولايتي اداري ....(١٣)
٦– په خوست كي امنيتي او اداري ثبات.........(١٤)
٧– ديوي تاريخي روغي جوړې.....................(١٧)
٨– په خوست كي داتحاد علماء افغانستان......(٢٨)
٩– تلاش هاي صلحجويانه ....(٣٣)
١٠– دمطبوعاتو تاريخ ته ....(٣٩)
١١– كډوالو ديني ....(٥٢)

الحاج مولوی جلال الدین حقانی دوروستیو هوایی بمباریو او راکټي حملو دغندنی او همدارنګه دسروبی، تګاب او کابل له اوسیدونکو سره دهمدردی په پیغام کی:

که په ولسی خلکو او کلیوالو سیمو هوایی بمباری او راکټي حملی دوام پیداکړی موږ بی تفاوته نشو پاتی کیدی

بسم الله الرحمن الرحیم

دافغانستان مجاهد او قهرمان ملت چی له روسی یرغلګرو پوځونو سره یی دجهاد په جریان کی دجګړو او هجرت کومی ستونزی زغملی او پدی لار کی یې څومره قربانی ورکړی په یقین سره ویلی شو چی دبشری تاریخ په حافظه کی دداسی دردوونکو پیښو ساری او ددغسی قهرمان ولس دصبر او زغم مثال نه لیدل کیږی.

په کار خو داوه چی دملت پر تپونو دملهم پټی ایښودل شوی وای او ددغو دردونو درمل شوی وای خوله بده بخته چی دتیرو (۱۸) میاشتو داقتدار خپل منځی جګړو ملت لدی څخه زیاتو مصیبتونو او تکلیفونو سره مخامخ کړ ، داوبو او بریښنا قطع کیدل،دلارو بندول او دسونګ او خوراکی موادو له قحطی بی امنی او لوټمار سربیره په هوایی بمباریو او راکټی حملو کی له ورانکونکي او مرګوني سرنوشت سره مخامخ شو. موږ دافغانستان دعلماوو، قوماندانانو او هغو ټولو اړخونو په نمایندګی چی په جنګ کی ملوث ندي له دواړو متخاصمو ډلو څخه په کلکه غوښتنه کوو چی په ولسی خلکو او کلیوالو سیمو له هوایی بمباری او راکټی حملو څخه ډډه وکړی، دبریښنا له قطع کولو، داوبو له بندولو او د عام المنفعه پلونو او فابریکو له بمباري او راکټی حملو څخه ځانونه وساتی. موږ پداسی حال کی چی له خپل مجاهد او مظلوم ولس سره دهوایی بمبار او راکټی حملو له اړخه درسیدلی زیان په غم او درد کي ځانونه شریك بولود الله تعالی له در بار نه ورته داجر عظیم غوښتنه کوو او دا په ډاګه اعلانوو چی که بیاهم په ولسی خلکو او کلیوالو سیمو او عام المنفعه تأسیساتو هوایی بمباري او راکټی حملی تر سره شی موږ بی تفاوته نشو پاتی کیدی ، موږ یو ځل بیا په تکرار او تاکید سره ددی ټکی یادونه کوو چی په کلیوالو سیمو او ولسی خلکو بمباری او راکټی بریدونه سملاسی بند کړی شی، او ولس له بریښنا ، اوبو او د ژوند له لومړنیو ضرورتونو څخه محروم ونه ګرځوی، که چیری بیاهم دغه ناوړه عمل تکرار شی موږ بی تفاوته نشو پاتی کیدی، بیا به مجبور ؤ چی په لازم اقدام لاس پوری کړو چی پدی صورت کی به دعواقبو مسوولیت دمتخاصمو ډلو په غاړه وی.

والسلام علی من التبع الهدی

الحاج مولوی جلال الدین حقانی

واقعي حل په واقعيتونو متکي حل

دجمهور رئيس او صدر اعظم دپوځي ځواکونو ترمنځ يوځل بيا په تګاب کي ديوي خونړي جګړي او زور-ازمايي لوبه توده په توده کي روانه ده - دخبرونو ترمخ داخوم ځل دي چي متخاصم ځواکونه تګاب نيسي او بيرته په شاتګ ته مجبوريږي، لدي څخه معلوميږي چي دواړه ځواکونه په نظامي لحاظ يوبل ته دآخري شکست ورکولو بشپړ قابليت نه لري، او څرګنديږي چي په پوځي ډګر کي اخري پريکړه (فتحه او شکست) د روان جنګي وضعيت له مخې ليري دي.

لوستونکي او هيواد وال دابته درك کولي شي چي دغه نيول او په شاتګ به هر لوري (افغان ولس) ته په څومره لوړه بيه تمام شوي وي - څکه دتعرض او دفاع دغه دواړه صورتونه او له هغې څخه راولاړ ځاني او مالي تاوانونه په حقيقت کي بياهم افغان ولس زغمي اوبس.

دخپروشويو خبرونو له مخي په دغو جګړو کي دمرګ ژوبلې شميره دپخوانيو جنګونو په پرتله څکه زياته ده چي داسيمه هر لوري دخپلي واکمني او طاقت مهمه منبع ګڼي او داسي ښکاري چي دهر اړخ لپاره دا سيمې دخپل ځواك او طاقت ښودلو او ساتلو اصلي او اساسي موضع ده.

دصدارت او جمهوري رياست پوستونه دهيواد داقتدار دوه اصلي او اساسي مرکزونه ګڼلي شي، پداسي حال کي دا دواړه ستر پوستونه دمتخاصمو ډلو په واك کي دي جګړه هم دهمدغو اړخونو په مينځ کي چي داقتدار دغه دواړه مرکزونه يي په لاس کي دي روانه ده.

له همدي ځايه ده چي دجګړي ددغي اور دلا ژبغړانده کيدو لپاره کله قومي ، سمتي او مذهبي تمايلات پاروول کيږي او کله دا ډول نورو تعصباتو ته لمن وهل کيږي خو حقيقت دادی چي دا هرڅه دخپلو منافعو له مخي عنوانيږي او بيا په ډيره ظالمانه توګه تر سودا بازي لاندي نيول کيږي.

حيرانوونکي داچي دوی ددغو جګړو دجواز لپاره دحق په جانب اکټونو او تاويلاتو دوړاندي کولو په ناکامو کوښښونوسره داسي فکر کوي چي ګني ملت دومره بي حسه او بي خبره ده چي پدي نه پوهيږي چي جنګ دڅه لپاره؟ او پدي کشمکش کي دملت تباهي او دوطن بربادي ولي؟ په بل عبارت پداسي حال کي چي دملت پر مري لګيادي چاړه را کاږي داهڅه کوي چي ملت دخپل قتل په جواز هم قانع کړي.

عجيبه خبره داده چي ظاهراً دجمهور رئيس او صدراعظم ترمنځ ددغو جګړو په منځ منځ کي دددفاع دپخواني وزير ښاغلي احمد شاه مسعود نقش هغه تريخ حقيقت دی چي دغو خونړيو جګړو ته بل خطرناك جهت ټاکي. پداسي حال کي چي دده له ګوښه کيدو سره بايد دده تکليف نور معلوم شوی وای :

دجلا آباد دترون له مخي ښاغلي

احمد شاه مسعود ددفاع له وزارت څخه گوښه شوی خو په روان جنگ کی دجگړه مارسیاست ترشا دهغه نقش او قومانده په اساسی توگه دخیله ښکاری، داسی چی جگړه دصدراعظم او ددفاع دپخوانی وزیر دځواکونو ترمنځ وی که داسی وی چی داسی هم ده نو جنگ دبرحال صدر اعظم اوگوښه شوی دفاع وزیر ترمنځ دی چی پدی صورت کی دکابل راډیو دغه تبلیغات چی گنی حکمتیار داسلامی دولت پر ضد جنگ شروع کړی باید داسی وانگیرل شی چی معزول وزیر دفاع دبرحال حکومت پر خلاف جگړه پیل کړی وی چی پدی صورت کی قضیه روښانه ده چی باید داسی نه وای.

سوال دادی چی پدغو جگړو کی دملت تباهی او راښکیلول هم څه دنیاوی او اخروی مسوولیت لری او ایا ایمان وجدان او تاریخ ته هم دځه کردار په لوبولو څوك قایل دی که څنگه؟

بله حیرانوونکی خبره داده چی هر لوری دا ادعاکوی او داخپل داسی حق بولی لکه چی دتگاب قواله نغده ور سره وی. ښاغلی احمد شاه مسعود داور بند او سولی لپاره دا شرط ایښی چی تگاب ورته پرېښودل شی دا داسی خبره ده لکه تگاب چی دچا شخصی ملکیت وی، او یاهم دهیواد سیمی دښاغلی مسعود او ښاغلی حکمتیار ترمنځ تقسیم شوی وی. پداسی حال کی چی تگاب یا دافغانستان نوری سیمی نه خودچا میراث گڼلی شی او نه هم شخصی ملکیت.

بله خبره داچی جنگ که په کابل کی وی او که په ولایاتو کی جنگ دی ، بربادی ده او ورانی-او دافغانستان په نوم په دغه جغرافیایی محدوده کی هره سیمه افغانستان دی او دټولو گډ وطن او کور. دتأسف ځای دی چی دمجاهدینو په نوم په دغه (۱۸) میاشتی حاکمیت کی پداسی حال کی چی جمهوری ریاست او صدارت هم ددوی په قول دمطرحو جهادی او تحریکی قوتونو سره دی بیاهم داسی خبرونه خپرېږی چی دهیواد هغه او دغه سیمه له دښمن څخه ونیول شوه او فتحه شوه- ددښمن دومره پوستی فتحه شوی... مجاهدین شهیدان شول ددښمن الوتکی راوغورځول شوی او... جگړه که دصدر اعظم او جمهور رئیس ترمنځ وی اوکه دنورو اړخونو ترمنځ خو دهوایی بمباری او راکټی حملو په اور کی ولس سوځی او دبیدفاع کلیوالو کورونه ورانیږی اورغورځوونکی او غنچه یی بمونه په ولسی خلکو اچول کیږی. او پدغو بمباریو کی دهغو چا کورونه او هستی خاوری کیږی چی دجمهور رئیس او صدر اعظم یاهغه او دغه هیڅ یوه په مخالفت او پلوی کی قرار نلری. دسروبی وحشیانه بمباری نه خود حکمتیار په پوځی مرکزونو شوی او نه هم دهغه په پوځی قوتونو بلکی نیغ په نیغه دسروبی بازار او شاو خوا کلی او کورونو بمباری شوی او له لمونځ کوونکو څخه په ډکو جوماتونو باندی بمونه غورځول شوی دی، له روسانو او کمونیستانو سره په تیره (۱٤) کلنه جگړه کی دسروبی بازار او نژدی کلی دا ډول ندی بمباری شوی خو اوس دادی هغه بازار اوکلي په اصطلاح د مجاهدینو دحاکمیت په دوران کی بمبارشول، وران شول او وسوځیدل.

دلته داحقیقت ښیخی جوت مخی ته کیږی چی دکمونستانو فعالیت ته جگړی څومره زمینه مساعده کړی ، لدغو اختلافاتو او جنگونو څخه هغوی نه یواځی داچی دخپل برائت لپاره دگټی اخیستلو په لټه کی دی بلکی کوښښ کوی له د ی لاری هغه وحشتونه ،بمباری او ظلمونه له خلکو هیر کړی چی (۱٤) کاله د کمونستانو له خوا پدغه ملت ترسره شویدی .

دغی ټکی ته د اتحاد علمای افغانستان مشر محترم مولانا ذاکری صاحب هم اشاره کړی ویلی یی دی : « په تگاب او سروبی کی د بمباریو فتنه د روس بچیانو پیښه کړی هغوی غواړی پدی هیواد کی بی امنیتی ، بی باوری او دښمنی تشدید کړی دغو ظالمانو ته چی وویل شی خولی یې راوړه دوی یی سر راوړی . »

په پوځی ساحه کی په تیره هوایی برخه کی د کابل دواکمنی اتکا هغه جنرالان او پرسونل دی چی (۱٤) کاله یی دد غه ملت پر ضد د جنگ او وحشت په روحیه سره فعالیت او برخورد کړی . که نه نو د

کوم افغان او مسلمان ایمان او وجدان به د دی اجازه ورکړی چی له خلکو څخه په ډك بازار او کلیوالو سیمو اور- غورځوونکوی او غنچه یی بمونه استعمال کړی او د بیګناه او مظلومو هیوادوالو جونګړی او هستی له منځه یوسی .

د جګړی فشار او زیانونه چی څومره عام ولس او خلکو ته متوجه دی دومره متخاصمو ډلو ته نه دی متوجه - څومره زیان چی له دی جګړو څخه ولس او خلکو ته رسیدلی ، متخاصمو ډلو ته نه دی رسیدلی ، له همدی ځایه ده چی د سولی علمبردار الحاج مولوی جلال الدین حقانی په خپل یوه پیغام کی د بمباریو له امله له ولس سره د همدردی د څرګندولو په ترځ کی اعلان وکړ چی په کلیوالو سیمو او ولسی خلکو هوایی بمباری او راکټی حملی بندی کړی شی ، که دا حملی بندی نشوی دوی بی تفاوته نه شی پاتی کیدی چی په دی صورت کی به د عواقبو مسوولیت د متخاصمو ډلو په غاړه وی . همدارنګه الحاج مولوی جلال- الدین حقانی دا هم اعلان کړه چی عام المنفعه تأسیسات اوبه او بریښنا د ولس .طبیعی حق دی ، له دی مسلم حق څخه د ولس محروموال ستر ظلم دی چی باید نور تکرار نشی .

په ساړه ژمی کی خونړی جګړی او له دی اړخه د بریښنا، اوبو او سونګ د موادو نشتوالی داسی ښکاری چی له ولس څخه د تیر (١٤) کلن جهاد غچ اخیستل کیږی په دی کی د کمونیزم د هغو پاتی شونو نقش څرګند دی چی له همدی ناحیی یی خپل نظامی حضورته لار پرانستی ده .

حقیقت دا دی چی کابل د مجاهدینو په نوم د (١٨) میاشتنی حاکمیت او جګړو په دوران کی چور شو، لوټ شو ،حتی د یوه بهرنی ژورنالست په قول دوطن په ورانی او بربادی برسیره پدغه وخت کی دافغانانو تاریخ هم وران او لوټ کړی شو خو لدی ټولو سره داقتدار دهوس نشه او تلوسه سړه نشوه پدغه موده کی دنظام او حکومت په نوم دګډوډی او انارشیزم حاکمیت دی او دملت دمادی او معنوی شتمنیو دچور تالان لپاره داسی لاری چاری رامنځته شوی چی اوس یی دیوه سیستم بڼه غوره کړیده.

داجریان او خونړی جګړی په مجموع کی دملت پرضد جګړی او دوطن دورانی او بربادی جګړی دی چی نور باید پرینښودل شی چی داوطن همداسی دجګړی ډګر پاتی شی او دملت تشخص او ملی وحدت او هویت پکی ایری ایری شی، ددغو خونړیو جریاناتو دمخنیوی لپاره باید په هغو واقعیتونو فکر وشی او په پام کی ونیول شی چی دربړی دحل په جهت کی مؤثرو واقع کیدی شی که څه هم دچاله ذوق او سیاسی سلیقی سره اړخ نه لګوی او یاهم دیوه اوبل له ګوندی او شخصی منافعو سره په ټکر کی واقع کیږی.

حقیقت دادی چی ترڅو دحل داسی لاری چاری او واقعیتونه په پام کی ونه نیول شی او له هغو څخه داستفادی لاری ونه لټول شی ربړه بیخبوره نشی حل کیدی. موږ دتوافقاتو او حل په نوم ډیر حرکتونه ولیدل چی هیڅ هم تری جوړ نشول ، پدی رابطه ډیری تجربی وشوی خودحل په جهت کی یی څه نتیجه ورنکړه.

ځینی هسی له بعضو نومونو ویره لری او بیځایه ورسره حساسیت څرګندوی. افغانان دخپلو اسلامی اوملی ارزښتونو له مخی کولی شی په یوه معقول او منطقی حل بریالی شی چی دننګرهار دشورا او احمدزیو ترمنځ دسولی جریان او توافق زموږ دخبری ژوندی ثبوت دی.

دافغانستان علما، قوماندانان، قومی مخور، سیاست پوهان او روشنفکران دداسی یوه حل اجزا دی چی ددوی په ټولیدو او پریکړه دامعضله هواریدای شی ځکه خو په کار ده چی موږ واقعیتونه ومنو او ورڅخه استفاده وکړو، له واقعیتونو ویره او یاورسره حساسیت نه یواځی داچی سړی له حقیقت څخه لیری کوی بلکی په داسی ورکو اونامعلومو لاروبی بیایی چی بیایی سرابونه هیڅکله په حقیقت نشی بدلیدلی.

په کار ده هغه څه چی ورروسته دمجبوریت له مخی ډیر ستر قیمت په اداکولو ترسره کوو اوس حقایقو او واقعیتونو ته دتسلیمیدو په روحیه عملی کړو.

وما علینا الاالبلاغ

الحاج مولوي جلال الدين حقاني له منبع الجهاد سره په مرکه کې:

ملت باید له تحزب ، قومیت او تفرق نه وحدت ته روابلل شي ترڅو د هر ډول عداوتونو منشأ ختمه کړی شي

جګړې دوارو خواوو ته اړ کړي چې له هر چا سره د یو بل پرضد ائتلاف وکړي

پوښتنه : که په ننګرهار کې د خپلو سوله ایزو هڅو او فعالیتونو په رابطه لوستونکو ته معلومات ورکړی ډیره مهرباني به مووي .

ځواب : د ننګرهار د شورا او احمدزیو د قام ترمنځ د جګړې ډیر خونړي اور لګیدلی ؤ ، ددغه جګړې مخکني اسباب اوعوامل چې هر څه وو او یا داچې څه ډول جګړه پیښه شوه چا د جګړې دغه اور ته د لمن وهلو هڅه وکړه د چا لاس پکې ؤ او لدې لارې یې د خپلو سیاسي اغراضود تحقق هڅه کوله ، زه دلته په هغې بحث مناسب نه ګڼم . البته دا ښکاره ده چې ددغه جګړې ظاهري منشأ د حاجي شمالي خان او دهغه د ورور ناصر خان وژل او ددوي د غونډونو ، مرکزونو او شتمنیو لوټول وو ، دې کار داحمدزیوپه قوم ډیر بد تاثیر وکړ ، که څه هم پدې هکله ډیری توصیې وشوی خو څه اغیزه یې ونکړه احمدزي پورته شول اودایې عنو انوله چې موږ انتقام نه اخلو بلکې د شمالي خان د شخصي شتمني غونډونو ، مرکزونو او وظیفې غوښتنه یې کوله چې دا ټول بیرته دوی ته وسپارل شي .

د ننګرهار شورا ویل چې د شمالي خان په واسطه زموږ نظم مخکې هم مختل ؤ، امنیت هم خراب ؤ او نور داسې ډیر شکایات موجود ؤ اوس که بیو ځل بیا دده هغو خاصو کسانو ته پداسې صورت کې چې روغه نه وي شوی او مړي په ځای پاتې وي پدې صورت کې که دده نفر شورا ته راشي دا به د جنګ او فتنې سبب وګرځي ، همدا رنګه دوي داهم ویل چې دا شورا د تنظیمونو په سطحه جوړه شوي اوس باید د هغه

په عوض د محاذ له تنظیم نه په شورا کې بل نفر ونیول شي پدې شورا کې د قوم په لحاظ کوم تشکیلات وجود نلري چې د قومیت له مخې په شورا کې برخه ورکړې شي .

همدارنګه غونډونه او مرکزونه هم شخصي ملکیت نه شي ګڼل کیدی دا ټول د ننګرهار د شورا په اختیار کې دي داد ننګرهار د شورا او فرقې مربوط دي او د ننګرهار تر اداري پورې اړه لري او د کوم قوم ونډه او حق نشي ګرځیدلی دوي داهم ویل چې پدی مربوطاتو کې چې هر څوك تبا- کل کیږي هغه باید د ننګرهار مربوط وي نه په زاړه رژیم پورې تړلي خلك وي او نه د بل ولایت.

موږ په ډیر غور او تعمق ددواړو خواوو اظهارات، دلایل او نقطه نظر واورید او پدې هکله مو د خپلو معلو ماتو د بشپړولو هڅه وکړه ، همدارنګه موږ په ننګرهار کې د شمالي خان دوسلې او شتمنیو معلومات واخیستل او همدارنګه مو په حصارك - سروبي ، تزئن او ملا عمر کې د منځ ته راغلې وضعیت او موجوده او پخواني حالت معلومات تر لاسه کړل موږ لومړي د اکوښښ وکړ چې لار

> پاتېکونه باید له لارو څخه لیري کړی شي او له هیڅا څخه غیرقانوني محصول وانه خیستل شي

باید خلاصه شي ځکه په جلال- آباد کې په سلګونو مسافر د لارې د بندېدو له امله چې زنانه ، بوډاګان او اطفال پکې شامل وو له څو ورځو راهیسې بند پاتې وو چې نه په هوټلونو کې ځاي ؤ او نه هغوي داسې بل ځاي پیدا کولی شواي ، په کابل کې هم نرخونه ډیر لوړ تللي ؤ او د خوراکي موادوقحطي یې را منځ ته کړې وه او په ټول هیواد کې یې ناوړه اغیزه کړې وه ، هماغه ؤ چې لاره خلاصه شوه نږدې یو میاشت موږ په دې هلو ځلو تیره کړه تر ننګرهار او سروبي پورې څو څو واره ولاړو، له اړوندو اړخونو سره مو تفصیلي ، خبرې وکړې او د هغوي قناعت مو حاصل کړ.زموږ د هلو ځلو په نتیجه کې د ننګرهار شورا توافق وکړ ویې ویل چې جوړه کیږي باید بیخپوره جوړه وشي ځکه خوبې د شمالي خان پر ځاي په شورا کې د هغه د ورور په شمولیت هم توافق وکړ ، غونډونه او قطعات به ددوی داسې کسانوته چې د ننګرهار مربوط وي د بل تنظیم او نورو ولایتونو نه وي او د زاړه رژیم بقایانه وي ورته سپارل کیږي او شتمني او لوازم به یې هم ټول ورته تسلیم کوي .

په استثنا د ډاکې د غونډ دا غونډ فعلاً پیر صاحب ته حواله شو – او پیر صاحب به دا غونډ داسې چاته سپاري چې دواړه خواوې پرې قناعت ولري ځکه دا غونډ جنرال رحیم وردګ او باچا تأسیس کړی و .

په فیصله کې دا هم راغلي چې د لارې په اوږدو کې باید دواړه جانبه هیڅ پا ټکونه وانه چوي غیر قانوني محصول او پیسې له چانه وانه خلي که له دې نه هر طرف سر غړونه وکړه دواړه خواوې به ورته بووي او له سر غړوونکي شخه به هیڅ ډول قومي او تنظیمي ملا تړ نه کوي .

له دواړو خوا وو پنځوس پنځوس لکه کلداري نقدې بر- مته او ضمانتونه واخیستل شول که هر طرف له فیصلې سر غړونه وکړه دا به په طریقه د تعزیر بالمال ددوي جریمه وي چې دسولې هیئت ته به ورغلي وي د مړو په باره کې تر یوه کال بند کیښودل شو چې پدې موده کې به دمړیو پورنه غوښتل کیږي تر څو حالات پدې هکله هم دا ډول سازګارشي چې شوې فیصله عملي بڼه غوره کړی شي دا هم باید ووایم چې هر طرف لدې فیصلې شخه سر غړونه وکړه برمته به یې ځي ، دادی د فیصلې اصلي متن تاسې ته سپارل کیږي چې هغه هم مکمل نشو کړي .

پوښتنه : د خدای په فضل ستاسې د کوښښونو اوغوره تدبیر له امله د ننګرهار شورا او احمدزیو ترمنځ د جګړې د فتنې اور مړ شو ، له همدې ځایه له ولس سره دغه هیله ژوند ی شویده چې تاسې یو ځل بیا په

د ننګرهار شورا او احمدزیو تر منځ د سولې د سر غړونکو شخه به هیڅ ډول قومي اوتنظیمي ملاتړ نه کیږي

کابل کې د سولې لپاره خپلې هڅې پیل کړې ، آیا تاسې پدې رابطه ولس ته څه ډاډ ورکولې شې .

ځواب : په کابل کې د رباني صاحب او حکمتیار صاحب تر منځ سوله په دوو طریقو باند کیدی شي یوه دا چې ددوی کوم اختلافات دي هغه په ډاګه د ملت په وړاندې کیږدېي د ملت د هر قشر نه دعلماوو ، قوماندانانو ، روشنفکرانو او مخورو تر نګراني لاندې ددوي اختلافي مسایل شریعت ته حواله کړی شي ، شریعت چې کوم ګرم او پړ کړ هغه به ګرم او پړ ګڼلې شي او که دواړه یې ګرم او پړه وبلل دواړه به ګرم او پړه بلل کیږي او دواړه به دا فیصله مني پدې صورت کې به دواړه لیری کیږي او یا به یو حاکم اوبل به یې په اطاعت مجبور یږي . د هر یوه په څنګ کې چې کوم غیر مشروع عملونه دي او دوی په هغو تمسک کړی لکه کمونستان یې چې په خپلو څنګونو پوري نیولي دا ټول به د شریعت له مخې حل او عملي کیږي ،

شریعت به جکم وکړي او ملت به یې عملي کړي .
بله خبره داچې یوه ډله د علماوو ، قوماندانانو، روشنفکرانو او مخورو په ملت

> باید د شریعت په رڼا کې دملت د واقعي نمایند ګانو لهخـــوابوداسې قوت رامنځته شي چې دواړه خواوې شریعت ته کینړي او د شریعت د حکم له مخې په ملامت لوري دهغه ملامتې تطبیق کړي

کې وګرځي دا متفرق ملت د تحزب ، قومیت او تفرق نه وحدت ته راوبولي ، منسجم یې کړي بیا دسولې او حکومت لپاره یوه طرحه جوړه کړي چې د عداوتونو منشا ختمه شي ، البته دا به یوه متفق علیه طرحه وي پدې صورت کې به دوي یا دا طرحه مني او یا به له صحنې لیرې کیږي ، خو اول به علماء ، قوماندانان او مخور له‌دوي ځخه دا التزام اخلي چې که شریعت هر یو ګرم او ملامت کړ هغه به پړ او ګرم وي ، که دواړه یې ګرم کړل دواړه به ګرم وي او له صحنې ځخه به ایسته کیږي خو شرط د ادي چې پالیسي او طرحه باید جوړه شوي وي او یو داسې قوت برابرشي چې دواړه شریعت ته کینوي او په ګرم ، ګرمه تطبیق کړي پدې صورت کې به زه هم د نورو په جمله کې له خدمت ځخه دریغ ونکړم او خپل ټول امکانات او هلې ځلې به په کارواچوم .

پوښتنه : ګڼ علما ، سیاست پوهان ، قوماندانان او مخور د دولت قانوني او اسلامي خلاوو او کمزوریو ته ګوتې نیسي ، خو تر اوسه پدې رابطه د یوه اتفاقي او پراخ پلان اوطرحې ځرګندونه نده شوې ، پدې هکله تاسې د کومې پراخه اتفاقي طرحې ځه پروګرام لرئ که ځنګه ؟

ځواب : تر اوسه چې علماوو پدې رابطه کوم جلې اقدام ندې کړی وجه یې دا ده چې ویني ټوپول نور هم زیات نشي ، که کومه فتوي راوځي او کوم غیر شرعي کارونه چې په حکومت کې دي د هغې د مرتکبینو د حکم فتوي جاري کړي او حکومت ځه غور پرې ونکړي د زیاتو وینو توپولو سبب به وګرځي .
دوي غواړي چې له نورو لارو واکمن متوجه شي د تجربې له مخې دي ته پام وکړي د جنګونو له اړخه دي متوجه شي چې تر اوسه یې هیڅ نتیجه نده توې تر لاسه کړې او له دې لارې به اصلاحات راولي او یا به داسې یوه حل ته غاړه کیږدي چې موجوده مشکلات حل کړي شي ، او دې ته ضرورت پیدانشي چې فتوي صادره شي .
اصلا له علماوو او ملت سره دا خبره هیڅ مطرح نه ده چې حکومت او مسوولین یې د کوم تنظیم او کومې سیمې خلك دي ، که د هر تنظیم او هر سمت وي خو چې اسلامي حکومت مستقر شي ، امنیت ټینګ شي د ملت مال او ناموس او حقوق په امن شي .
خو ددې کار لپاره اوږد انتظار ندې په کار ، که اصلاحات یې رانه وسټل او اسلام یې په بشپړه توګه تطبیق نکړ ، بیا به هلته د

علماوٌ، قوماندانانو او مخورو له خواپه ګډه اقدام کیږي .
پوښتنه : په هیواد او بهر کې د یوه مستقر ملي حکومت لپاره بیلا بیل قوتونه بیلا بیل نظریات لري ، ددغو نظریاتو او هڅو د توحید له پاره ستاسي د نقش یادونه کیږي ، تاسي پدې اړه څه نظرلري ؟
ځواب : په افغانستان کې د اسلامي حکومت د استقرار لپاره نه خو د ملګرو ملتونو د قوتونو مدا خله دا مشکل حل کولي او نه هسم د اډول نور پروګرامونه ، ځکه د افغانستان مجاهد ولس د داسي یوه سوچه اسلامي حکومت غوښتونکي دي چي هغه په هیڅ نوعه د غرب د تقلید څخه بر خور دارنه وي او نه هم د خارجي مداخلي په لاس ملوث وي . بلکې داسي حکومت غواړي چي د اسلام په نقشه جوړشوي اوروان وي ددي یوه طریقه داده چي د ملت با بصیرته اشخاص له علماوو ، قوماندانانواومخوروڅخه راټول‌شي د اکه په طریقه د انتصاب که

انتخاب خو عام انتخابات نه - ددوي په مشوره او همکاري یو حکومت جوړ شي ، بیعت ورسره وشي او د کار کردګي لپاره دهمکاري او اطاعت وعده ورسره وشي په مخالف یې شرعي حکم وشي دا دحکومت د جوړیدو. او استقرار لارده .
پوښتنه : تاسي دخپل اصولي او مستقل مو قف له مخي تر اوسه د دولت په اجرآتو او دهغې د مخالفینو په طرز عمل دواړو انتقادونه کړي آیا دابه د یوه دریم قوت درامنځته کیدو په لور پرمختګ نه وي ؟
ځواب : په اصل کې په افغانستان کې چې څه ناوړه کارونه او بې نظمي رواني دي او یا هم په حکومت کې د کمونستي رژیم بقایاوي فعالي اوائتلافي شکل لري دي ټولو ته زه فکر کوم چې جنګ زمینه مساعده کړي جنګ دواړه خواوي دي ته اړ کړي چې له هر چاسره

دیو بل پر ضد ائتلاف وکړي . ځکه دا جنګونه د اقتدار جنګونه دي، هره‌ډله د ځان لپاره مطلق العنانه واکمني غواړي .
ځکه خو موږ په دواړو خواوو انتقاد کړی ، د دوي په کړو وړو اوعمل مو اعتراض کړي ددوي جګړه‌مار سیاست او اجرآت مو غندلي خو دا هیڅکله ددریم قوت د بر لاسي کولو هڅه او قدم ندي ، اصلي خبره داده چي افغان مجاهد ولس لدی روان وضعیت څخه ډیر په تنګ دی او دوي ته دابي تفاوته ده چي د چاحکومت راشي د مسعود که د حکمتیار خو چي امنیت راولي اسقرار رامنځ ته کړي ، داسي هیڅکله ملت نه غواړي چي د یوه حکومت دې راشي او هغه بل دې له منځه ولاړشي اکثریت ملت اوس ددي مخالف دي ، ظاهراً خو دا پخپله یو دریمګړی قوت ښکاري چې داله اصله پخپله موجود شوی اودوي د جګړه مار سیاست له امله رامنځ ته شویدی ، زموږ یا بل چاپه واسطه ندی رامنځ ته شوي .

الحاج مولوی جلال الدین حقانی په خوست کی دمجاهدینو دمتحدی اداری دفعالیدو په غونډه کی :

موږ ډیر کوښښ وکړ چی لومړی په کابل کی دمنلو وړ اداره او حکومت جوړ شی.

بسم الله الرحمن الرحیم

عزتمندو ورونو!

په اختلاف کی چی څومره اضرار او گناه مو جوده ده او ددی له امله چی دخلکو کوم حقوق تلف کیږی او یادگوډی او بی نظمی له امله په چا ظلم کیږی ددی ټولو پوښتنه به الله تعالی له موږ او تاسی نه کوی.

عزتمند و ورونو! موږ باید دسیمو – تنظیمونو او قومونو بیلتون له منځه لیری کړو او داکیسی نوری له زړونو وباسو.

موږ له بی اتفاقی څخه ډیر ضررونه ولیدل دا اوس چی څه گډوډی روانی دي دا مرگونه او بربادی دا جگړی او ظلمونه داټول دبی اتفاقی له امله دی.

حقانی صاحب وویل! زموږ دځورولو لپاره دلته داسی کارونه کیږی چی امنیت گډوډ شی ترڅو مؤسسی خپل دفترونه وتړی او کومکونه قطع شی .

په کندهار کی هم دا کار وشو په ننگرهار کی هم دی ته زمینه برابره شوه چی مؤسسی خپل فعالینو محدود کړی او که دلته یوه واحده او قوی اداره نه وی چی امنیت تأمین کړی دلته به هم داکار تر سره شی داکار قصداً کیږی او په قصد سره دځینو سیمو دامنیت دمختل کولو هڅی روانی دی.

حقانی صاحب وویل: باید پدی اداره کی داهلیت له مخی مسؤلین وټاکل شی– قوم او تنظیم په پام کی ونه نیول شی.

(دغونډی برخوالو ټولو دمحترم حقانی صاحب له خبرو سره دتائید لاسونه پورته کړل او متصل یی دعا وکړه دزړه له جوش نه دعاو دحقانی صاحب دخبرو دمنـّلو او تطبیق په جهت کی دعا.)

دتعیناتو له اعلان وروسته حقانی صاحب په لنډ و ټکو کی وویل:

اوس چی د خدای په فضل موږ او تاسی ته الله تعالی دا توفیق را په برخه کړ چی دټولو په اتفاق دولایت والی، مرستیال او نورو شعبو مسوولین او مجموعی اداره و ټاکل شوه داهم باید ووایم چی څوک پدی ارگانونو کی مسوولین ټاکل شوی ډیر درونډ مسوولیت ورپه غاره شوی دی.

حضرت محمد صلی الله علیه وسلم فرمایی: که په دریو کسو هم چا امارت وکړ دمحشر په

دمسؤولینو په ټاکنه کی دتنظیم او قوم ملحوظ په نظر کی ندی نیول شوی– بلکی اهلیت ته کتل شوی دي.

ورځ به لاس ترلی راوستل کیږی ، بیا به له محاسبی وروسته دی یا خپل عدل او صداقت خلاص کړی او جنت ته به ځی او یا به خائن وګڼل شی او دوزخ ته به اچول کیږی.

حضرت عمر (رض) دوفات کیدو په وخت کی سوال وکړ: ای خدایه چې خلافت ته په کوم ایمان ننوتلی یم بیرته می په هغه ایمان ورځخه راوباسی، اجر نه غواړم چې اوبال او ګناه نه وی راباندی بار، ځکه خو باید مسوولین دی ټکی ته ښه پام وکړی او پخپلو ور سپارل شویو وظیفو کی له اخلاص صداقت امانتداری او جدیت ځخه کار واخلی.

همدارنګه الحاج مولوی جلال-الدین حقانی پدی اړه دامریکی غږ خبریال دیوی پوښتنی په ځواب کی وویل: په خوست کی دیوی اتفاقی او متحدی اداری جوړیدل او ددغی اداری په سیوری کی خلکو ته خدمت کول دادسیمی د قوماندانانو ، علماوو او مشرانو لومړنی مکلفیت ؤ، موږ ډیر کوښښ وکړ چې لومړی په کابل کی دمنلو وړ اداره او حکومت جوړ شی،سوله او امنیت ټینګ شی او جګړی بندی شی. له همدی امله په خوست کی د اداری دفعالیدو کارونه له ځنډ سره مخامخ شول ځرنګه چې دکارونو د اجراً لپاره دمسؤلو مراجعو موجودیت ته ډیر ضرورت دی ځکه خو په خوست کی دتعلیم او تربیی روغتیایی چارو، زراعت او اعمار مجدد لپاره دیوی اتفاقی اداری په چوکاټ کی دمربوطه شعبو او مسوولینو تعین لومړنی او ضروری کار دی، اوخوست چون دیوه اوږده او سخت جنګ په نتیجه کی فتحه شوی ځکه خودلته هر ځه ورا ن ویجاړ دی او دا هلته جوړیدلی شی چې په یوه اداري چوکاټ کی هری برخی ته یوه مسؤوله مرجع موجوده وی ځکه خو موږ قوماندانان ، علما ، قومی مشران ټول را غونډ کړل. ددی لپاره یی یوه شورا جوړه کړه او له تنظیمی او قومی شورا ګانو ځخه یوه متحده ولایتی شورا جوړه کړی شوه، ددغی شورا له منځه یو هیئت ته وظیفه ور کړی شوه چې دتشکیلاتو او تعیناتو لپاره یوه لایحه عمل جوړه کړی دا لایحه دټولو له خوا تصویب او ومنل شوه او دټول کمیسیون له منځه یوه هیئت ته وظیفه او صلاحیت ور کړ شو چې هغوی تعینات وکړی او په همدی اساس ریاستونه او دهغوی معاونین تعین شول او دنور پرسونل دتعین لپاره هم یو کمیسیون ټاکل شوی چې دهری شعبی لپاره تعینات تکمیل کړی.

دخوست اداره دټولو قوماندانانو قومی مشرانو او علماؤ په تائید ، همکاری او ملاتړ منځ ته راغلی ده.

محترم حقانی صاحب دامریکا غږ خبریال ددغه پوښتنی په ځواب‌کی چې دکوم تنظیم قوماندانانوته مهم او ستر پوستونه ور کړی شوی وویل: دمسؤولینو په ټاکنه کی دتنظیم او قوم ملحوظ په نظر کی ندی نیول شوی- بلکی اهلیت ته کتل شوی‌دي.

موږ باید دسیمو – تنظیمونو او قومونو بیلتون له منځه لیری کړو او داکیسی نوری له زړونو وباسو.

موږ له بی اتفاقی ځخه ډیر ضررونه ولیدل دا اوس چې ځه ګیوری روانی دي دا مرګونه او بربادی دا جګړی او ظلمونه داټول دبی اتفاقی له امله دي.

دخوست دمتحدی ولایتی اداری فعالیدل

لاندی مطلب چی دیوی قطعنامی بڼه لری د۱۳۷۱ لمریز کال دحوت په (۲۵) نیټه دخوست داداري ارگانونو دمسؤولینو دټاکنی په غونډه کی دخوست ولایت دمرستیال محترم ارمان له خوا اوروِل شوی چی موږ یې په خوست کی دمجاهدینو له خوا دمتحدی اداری دجوړیدو او فعالیدو په اړه دیوه تاریخی سند او پریکړی په توگه خوندی ساتو - اداره

دالله په نوم چه دافغانستان مجاهداو دزمانی اتل ملت ته ئی ددی توان ورکړ، چه په دنیا کی دداسی ځواك او قوت مقابله وکړی چه دنیا والو ئی دظلم او وحشت لپاره ډیر وړاندی په ځانونو کی دکمزوری احساس کاوه، په فکری او جنگی لحاظ ئی دمخنیوی روحیه عملاً له لاسه ور کړی وه .د الله (ج) په نوم چه دافغانستان مجاهد او قهرمان ولس ته ئی په خالی لاس په هغه دښمن باندی بری ور په برخه کړ، چه ځان یی اتومی قدرت باله، دالله په نوم چه دافغانستان مجاهد ملت ته ئی داسی دوستان ور په برخه کړل، چی بی سرپناه او مظلومو مهاجرو ته ئی دډیرو قدرمنو میلمنو په حیث دخپلو ملکونو دروازی پرانیستی، په سرپناه، خوراك او عملی جهادئی دافغانستان دقهرمانو او اتلو مجاهدینو ملاتینگه کړه. موږ علماء - مجاهدین- قوماندانان ، سپین ږیری دخوست دولایت لپاره چه دقهرمانو مجاهدینو په متو دډیرو زیاتو ستونزو او شهادتونو په قبلولو په داسی وخت کی فتحه شو چه دافغانانو بعضی دوستانو نور دمجاهدینو مسلح بري ته امید نه ؤ ، لوی الله(ج) دخوست ولایت دمجاهدینو زړونه قوی کړل ، او په ملحد دښمن ئی بری ورپه برخه کړ، داسی لوی بری چی دټول افغانستان لپاره ئی دفتحي دروازه خلاصه کړه او مجاهدینو ته ئی دبیا په پښنو ودریدو توان ور وبخښه ، دمجاهدینو دوستان ئی مطمئن کړل، چه مجاهدین ددی توان او طاقت لری چه په ملحد دښمن باندی دالله دنصرت په ذریعه دتوری په زور بریٰ وموندلای شی.

په لاندی ډول دخوست دمجاهدینو دوحدت او یووالی په چوکاټ کی داسی اعلانوو.

۱- په خوست کی به دافغانستان دټولو مجاهدینو - قومونو او قبیلو ژوند ته لار خلاصه وی.

۲-دتاجکستان مهاجرین کولای شی چه خوست ته راشی.

۳-دکابل دولایت مهاجرینو او اوسیدونکو ته په خوست کې داوسیدلو لار خلاصه ده.

٤-داچه خوست دیوه دوامداره جنگ په نتیجه کی آزاد شویدی، طبعِی ده ، چه دخوست ولایت مربوط ټول کلی- مسجدونه- مدرسی- ښوونځی- پلونه- سړکونه- بندونه- ویالی - زراعتی ځمکی او عامه شتمنی له مینځه تللی دی ، ټولوکمك کوونکو مؤسساتو ته بلنه ور کوو چه په خوست کی خپلو کارونو او کمکونو ته دمساعدی آب هوا په درلودلو - سرحدی لنډی لارې داکمالاتو په وجه په ډاډه زړه دخوست داداری تر سرپرستی لاندی دوام ورکړی.

٥-دخوست ولایت متحده اداره دپاکستان حکومت له مقاماتو څخه په احترام غوښتنه کوی: لکه څرنگه ئی چی دمهاجرینو په ورتگ او استوگنی کی اوهمداراز دافغانستان دمجاهدینو او جهاد په چوکاټ کی بی دریغه - مالی- ځانی قربانی قبولی کړی. چی دافغانستان په تاریخ کی به نه هیریدونکی وی اوس هم په سرحداتو کی لگول شوو بندیزونو ته پای ورکړی . چه دمهاجرینو په بیرته راتگ او خوست ته دمختلفو روزمره ضروری موادو په انتقال کی ئی ډیری زیاتی بی موجبه ستونزی پیداکړیدی.

٦- دخوست ولایت ټولو مربوطه اوسیدونکو ، قومونو، قبیلو، قوماندانانو، مجاهدینو ، سپین ږیرو، علماءکرامو- منورینو- څخه په کلکه غوښتنه کوو چه داسلام تر سیوری لاندی امن قائیم کړی هره بده پیښه به دهر فرد لپاره چه دخوست اوسیدونکی وی په خاص ډول او دټول افغانستان لپاره په عام ډول بي له تاوان و خرابی څخه بله نتیجه ونلری.

۷- دخوست هوائی میدان دموسساتو اوبشری مرستو درسولو په خاطر خلاص دی.

۸- په ټولو همجوارو ولایاتو او گران افغانستان کی دمجاهدینو دکلی وحدت او مفاهمی غوښتونکی یو، امید دی چه باهمی تفاهم او مکمل وحدت مینځ ته راشی.

ومن الله التوفیق

په خوست کې امنيتي او اداري ثبات:

دبــيارغاونــې – نــظم او اداري سمبالښت مثبت او روښانه جهت

په کابل کی دمرکزی اداري عدم استقرار ستونزو په ولاياتو کی هم خپل منفی اغیز په ځای پری ایښی دی له همدی ځایه ده چی په ولاياتو کی سره لدی چی قوماندانانو او سیمه ایزو مشرانو دجهاد په اوږدو کی دتفاهم او تساند په فضا کی جهاد کړی خو په مرکزکي ژوانی بی ثباتی هلته دولایتی ادارو دجوړیدو او فعالیدو په مخه کی گڼ خنډونه رامنځ ته کړی دی.

خوست هغه ولایت دی چی دجهاد په نتیجه کی فتحه شوی او مجاهدینو آزاد او خپلواك ساتلی دی.

دخوست مشرانو لکه د مجاهدینو ستر قاید الحاج مولوی جلال الدین حقانی تر ډیره دا کوښښ کاوه چی په کابل کی یو قابل قبول حکومت جوړ شی او پایداره سوله او امنیت رامنځ ته شی او دهغه حکومت او اداری له خوا دخوست دجهادی ځواکونو دهمکاری له مخی یوه اداره جوړه کړی شی.خو کله چی له اوږده انتظار او صادقانه هلو ځلو سره دغه هدف ته درسیدو په لار کی د اقتدار هوس او خپل منځي جگړي او کشالي دیوه ستر خنډ په توگه همداسی ولاړ پاتی شو نو بیا خو لدی پرته بله لار نه وه چی په خوست کی داتفاقی اداری دجوړیدو لپاره په جدی اقدام لاس پوری شی، له همدی ځایه وه چی دخوست داداری فعالیدل له لږ څه ځنډ سره محامخ شول.

هماغه ؤ چی دټولو تنظیمونو، قوماندانانو، علماوو او قومو نو په اتفاق دخوست ولایتی اداره جوړه او خپل لومړنی فعالیتونو یی پیل کړل که څه هم په کابل کي روانه بی ثباتی دنورو ولایتونو په څیر دخوست داداری په فعالیتونو هم منفی اثر غورځولی خو لدی ټولو سره اوس اوس دخوست اداری ټولو ارگانونو خپل فعالیتونه پیل کړی او ورځ تر ورځې ئی د فعالیت ساحی پراخیږی موږ پدی رابطه دخوست له والی محترم عبد القیوم خان او دولایت له مرستیال محترم ارمان سره لنډی مرکی کړی چی په گډه یی سره لولو:

زموږ خبریال دخوست له والی محترم عبد القیوم خان څخه دخوست دامنیتی وضعی په رابطه پوښتنه وکړه: دخوست والی پداسی حال کی چی له حالاتو څخه ډاډه او راضی معلومیده وویل: لکه څنگه چی تاسی به هم لیدلی وی په خوست کی په بشپړه توگه امنیت ټینگ دی.

دخوست دامنیتی قوماندانی له خوا دښار په شپږ کیلومتری کی امنیتی پوستی ځای په ځای شوی – دغه پوستی یواځې دامنیت په تأمین کی په خدمت لگیا دی لدی پرته دلارو په اوږدو او خپله ساحه کی دسیمی دخلکو اومسافرو لپاره دهیڅ ډول مزاحمت باعث ندی گرځیدلی– نه دکومی پوستی له خوا له چا څخه دمحصول په نوم پیسی اخیستل کیږی او نه هم د ښار او لارو په اوږدو کی دبارووړونکو موټرو اوسوداگرو څخه دټکس په نوم څه اخیستل کیږی. ددغو پوستو او پاټکونو وظیفه یواځې دامنیت تامین او ټینگښت دی.

بله مهمه خبره دا چې دخوست دښار په ساحه کې له مؤظفو اومسؤلواشخاصو پرته دوسلې په ګرځولو بندیز لګول شوی داکار په ډیره ښه توګه عملي شوی او لدې ناحیې ولس په ډیره مطمئنه فضا

همکاری څخه ډاډه یو ،پدې هکله دخوست ټولو ولسونو له موږ سره همکاری کړی او یوه اتفاقي اداره جوړه او فعاله شویده، که څه هم دخوست له ساحې دباندې دلارې په اوږدو کې کله ناکله مؤقت مزاحمت

دخوست داداري ارګانونو دپوره او لازم فعالیت په لار کې دمرکزي نظام عدم استقرار موجود دی که هلته نظم او استقرار رامنځ ته شو په خوست کې به لدې زیات نظم او امنیت راشي

کې ژوند تیروي داهم باید ووایم چې په خوست کې زیاتره ښوونځي او مدرسې فعالې دي په صحي برخه کې هم په خوست کې ډیر زیات کار شوی همدارنګه نور حکومتي ارګانونه هم فعال شوي او خپل لومړني فعالیتونه ئې په لار اچولي دي.

دخوست والي زیاته کړه: په خوست کې دمؤسسو لپاره دکار زمینه ډیره زیاته مساعده شوې دامنیت له ناحیې هغوی په ډیره اطمیناني فضا کې خپل فعالیتونه پیل کړي دي، دوی زیاته کړه: دا زموږ داداري دفعالیت لومړني ګامونه دي - دلته موږ هرڅه له صفر نه شروع کړي ځکه خوست دیوه سخت جنګ په جریان کې فتحه شوی له همدې امله دخوست مشکلات دنورو برخو په نسبت زیات دي. خو زموږ باور دی چې په کابل کې به دامنیت او ثبات په ټینګښت سره دخوست پاتې ستونزې هم حل شي- پدې اړه موږ دخپلو مربوطه ارګانونو د مسؤلینوله اخلاص او

پیدا کیږي خو ډیر ژر دتفاهم او اتفاق له مخې حل او فصل کیږي ځکه خو موږ دلارو په اوږدو کې څه خاص مشکل نلرو- ټولې لارې خلاصې دي او تجارتي مالونه او دسوداګرو قافلې په پوره امنیت لدې لارو څخه تیریږي.

کله چې زموږ خبریال دخوست له والي څخه دکابل دروانې وضعې او جګړو په هکله پوښتنه وکړه پداسې حال کې چې دوالي په څېره کې دتاثر نښې ځرګندې شوې په دردمنه لهجه ئې وویل: هغه وخت چې زه په کابل کې وم وضعه تقریبا بده نه وه موږ ته هم پدې هکله ډیر امید پیدا شوی وُچې خدای(ج) به وضعه نوره هم ښه کړي. خو وروستي پیښې ډیرې خواشینوونکې دي، موږپدې ډیر دردیدلي یو زموږ هیله او کوښښ دی چې داجګړې بندې شي او یو قوي مرکزي حکومت په هیواد کې داستقرار او ثبات باعث وګرځي، ددې کار لپاره ضروري ده چې مشران ورونه په اخلاص قدم پورته کړي او دداسې

یوحل په لورګام واخلي چې دیوې عملي طرحې په وړاندې کولو دسولې، امنیت او استحکام لار اوارهکړي.

همدارنګه زموږخبریال دولایت له مرستیال محترم ارمان سره هم پدې اړه خبرې کړې ، محترم ارمان چې دحالاتو په تحلیل او مطالعه کې لوی لاس لرې اوپیښې او واقعیتونه په ژوره او علمي توګه ترځیړنې لاندې نیسي پداسې حال کې چې دچارو دلاسمون او سمبالښت په اړه جدي او مصمم معلومیده داداري دجوړښت او فعالیت په اړه په تفصیل سره وویل:

دخوست اداري دروان کال دحمل له میاشتې وروسته فعالیت پیل کړي، ددغې اداری په جوړښت کې له پیله داهڅه شوې چې دمختلفو اړخونو په منځ کې دیوه هر اړخیز تفاهم له مخې قناعت رامنځ ته کړي شي، دولس ذهنونه دې ته اماده شول چې پدې اداره کې کوم ارکان ټاکل شوي هغه قابل قبول او داطاعت وړ دي.

لکه مخکې مې چې ورته اشاره وکړه ولس پخپل انداز کې پدې قانع شو - البته ددې جریان مخالفین به هم وي دهغوی مخالفت ته چې ترکومه سیاست جواز ورکوي هغه په پام کې نیول شوی هغوی هم زموږ ورونه دي، موږددوی انتقاد په سړه سینه اوریدلي، ښایي ووایم چې په یوه ولایتي اداره کې ټول دکارونو سرپرستان او متصدیان نښې جوړیدې ، کیدې شي هغو باکفایته هم وي خو موږ دهغوی انتقادونو او مشورو ته لار خلاصه

پرې ایښې.موږ داکوښښ کړی چې ټول ذهنیتونه په یوه اداری چوکاټ کی راشی او یوه داسی شورا جوړه شی چې دمنلو او پریکړو دعملی کولو چانس او قابلیت یی زیات وی ، البته موږدفعلی شرایطو او ظروفو په چوکاټ کی پدی هڅه او تلاش کی یو چې یوه منل شوی شورا که په قومی لحاظ وی او یاپه تنظیمی لحاظ خوچې باکفایته اهل او مستعد وروڼه پکی شامل وی فعاله کړو`او دغه وروڼه پدی نظام کی شریك شی ځکه چې نظام مشاورین او شورا سره چلولی شی.

په خوست کی داداری دپرمختګونه په لړکی دامنیت مسئله لومړی ځای لری ، موږ په خوست کی امنیت ته ډیره زیاته پاملرنه کړی او تر جدی غور لاندی مودا مسئله نیولی ده که څه هم زموږ مشکلات زیات دی چې پدی کی دتربیه شوی پرسونل کمبود او دباتجربه اشخاصو کموالی یوه ستره ستونزه ګڼلی شی، تنظیمی مشکلات هم موجوددی خو لدی ټولو سره سره موږ دسولی او پوره تفاهم په فضا کی پدی وتوانیدو چی امنیت ټینګ کړوکه څه هم په ټولو اداري واحدونو کی داداري ځانګی پوره ندی فعالی خوپه مجموع کی دامنیت وضعه دډیر اطمینان وړ ده .

محترم امان زیاته کړه:

موږ په خوست کی امنیتی پاټکونه ایجاد کړی په ښار کی مودوسلی په ګرځولو بندیز ولګاوه او لدی څخه ټولو پوره اطاعت وکړ - چې داکارموږ. دولس ، قومونو او قوماندانانو احسان بولو چې هغوی ددی ډیر ښه اطاعت وکړ او دانظم یی ډیر ښه مراعات کړ.

خو دابايد یاده کړم چې دخوست امنیتی پاټکونه داسی ندی لکه په نورو سیمو کی ؛ زموږ دامنیتی پاټکونو په ساحه کي یوه پیسه هم نده اخیستل شوی او ددی لپاره چې دټکس نظام ظالمانه بڼه نه وی غوره کړی نو دغلا، ظلم او ګډوډی دمخنیوی په خاطر تر اوسه دټکس او محصول په نوم هیڅ شی ندي اخیستل شوی.

همدارنګه اکثره څانګی او ارګانونه فعال شوی ، په تعلیمی ، روغتیایی ،قضایی برخه کی ډیر پرمختګ شوی هوایی ډګر دپروازونو لپاره آماده دی دملګرو ملتونو او دولت الوتکی لدی ډګرونو څخه پروازونه پیل کړی. هغه ارګانونه چې په دولت کی تشکیلات لری دهغو دفعالیت ابتدایی مراحل فعال شوی خو ځرنګه چې خوست له مرکز څخه لیری او په مرکز کی هم بی امنیتی او ګډوډی موجوده ده دبودجې دنشتوالی له امله د اداری دارګانونو دمؤثر او ګړندی فعالیت په لار کی مشکلات پیداکیږی. ځکه خوباید ووایم چې دخوست داداری ارګانونو دپوره او لازم فعالیت په لار کی دمرکزی نظام عدم استقرار موجود دی که هلته نظم او استقرار رامنځ ته شو په خوست کی به لدی زیات نظم او امنیت راشی ، خوست مرکزی حکومت ته هیڅ ډول مشکلات ندی پیدا کړی.

په خوست کی ټولو مؤسساتو ته دامن فضا برابره شوی دملګرو ملتونو دفتر خلاص دی او پدی رابطه هلته ډیر اطمینان موجود دی.

محترم ارمان وویل:یوه خبره چې په ځینو اخبارونو کی هم خپره شوی هغه د ځدرانو دپاټکونو مسئله ده. که څه هم هغه سیمی دګردیز داداري چوکاټ تر اثر لاندی دی خو دروابطو له مخی داسی فکر کیږی چې داګنی دخوست ساحه ده.

له هغوی سره هم زموږ مفاهمه روانه ده، ځدران ډیر میړنی قوم دی دجهاد دلومړنی قیام مخکښان دځدرانو قوم دی په جهاد کی یې ډیر ستر نقش او افتخارات ګټلی دی - دا دجهاد مدرسه ګڼلی شی مسلح حرکات له همدی ځایه پیل شوی دځدرانو مشران دجهاد علمبرداران ګڼل کیږی زموږ باور دی چې دوی به همداسی دسولی علمبرداران هم شی، دوی به دخپلو غازیانو او شهیدانو قدر دانی کوی دوی به دشهید مولوی فتح الله - شهید اسد الله جهاد وال - شهید مطیع الله - شهید مولوی احمد ګل او نوروشهیدانو په نقش قدم دهغوی دارمانونو دتحقق په لار کی دوروری لاسونه‌ورکړی.

خپله محترم حقانی صاحب چې نه یواځی په افغانستان کی دده علمی او جهادی شخصیت دمجاهدینو دویاړ او افتخار باعث دی، بلکی په بین المللی سطحه یو پیژندل شوی او منلی شخصیت دی او داسی نورعلما او مشران موجود دی چې ډیر خدمتونه یی کړی او ډیری قربانی یی ورکړیدی .

زمایقین دی چې دځدرانو غیرتی ولس دخپل فهم او ادراك له مخی دوروروګلوی په چوکاټ کی دی ته متوجه دی او باور دی چې داډول مزاحمتونه به ختم کړی.

دننگرهار شورا او داحمد زیو دقوم ترمنځ دسولی او جوړی په اړه:

دیوی تاریخی روغی جوړی

تاریخی سندونه

په ننگرهار کی دمجاهدینو داتفاقی اداری او شورایی سیستم دایجاد او فعالیدو له امله امنیتي او اداري وضعه ډیر داډمنه او امید- بخښونکی معلومیده دولایت ټول ارگانونه له هماغه لومړنیو وختونو راهیسی مسلسل فعال ساتل شوی او ولایتی اداره له یوه ښه پرستیژ او معقول حاکمیت څخه برخمنه وه.

په کابل کی دسولی په اړه او په تیره د جلال آباد دتړون له امله دننگرهار دولایتی اداری او حاکمیت نقش نور هم جوت او دیوه قوی او مؤثرځواك دتحرك نمایندگی او ځرگندویی کوله- له همدی ځایه وه چی دننگرهار اداری یو مثالي حیثیت خپل کړی ؤ. خوله بده بخته بدو سترگو او بدو نیتونو خپل کار وکړ او دحاجی شمالی خان دوژل کیدو واقعی او لدی اړخه را ولاړ شوی وضعیت که له یوی خوا دننگرهار داداری گټلي وقار او حیثیت ته صدمه ورسوله نو له بلی خوایی په سیمه کی په قومی بنیادونو دیوی خونړی جگړی اورهم بل کړ، اودبدخواهانو او غرضیانو لپاره یي دمنفي فعالیتونو لپاره مخه پرانیستله دجگړی دغه اور نژدی وه چی د افغانانو ترمنځ ددښمنیو او جگړو یونه ختمیدونکی مصیبت او تسلسل رامنځ او دوامداره وساتی.

که څه هم پدی رابطه محترم حضرت صاحب صبغة الله مجددي او محترم حکمتیار صاحب هلی ځلی او کوښښونه وکړل خو دجگړی دبل شوی اور لمبی غلی نه شوی له دغه جگړی څخه را ولاړ شوی منفی اثرات دټول ولس دژوند په بیلا بیلو اړخونو کی محسوس شول ، دلاری دبندیدوله امله یی دگرانی او قحطی تهدیدونکی اثرات رامنځته کړل دبی باوری او کرکی احساسات یی راوپارول او تر ټولو بده داچی دپښتنو پرضد یی دیوه منفی ذهنیت او پروپاگند په ایجادکی ناوړه تبلیغاتو ته لار خلاصه کړه.

دهمدغو خطرونو دمخنیوی په خاطر دمجاهدینو ستر قائد او دسولی داعی او مدافع الحاج مولوی جلال الدین حقانی چی همیش یی دروغی جوړی او سولی دټینگښت په جهت کی مؤثر نقش لرلی او پدی اړه یی دیوه ناجی په توگه داختلافاتو او جگړو له مرگونی تهدید څخه دولس دژغورنی په لار کی هلی ځلی کړی مخکی لدی چی دحالاتو جریان له کنترول څخه ووځی په خپل وخت دسولی او تفاهم لپاره خپل کوښښونه پیل کړل او ډیر ژرقوماندان الحاج محمد ابراهیم عمری دمحترم حقانی صاحب دهدایت له مخی پدی اړه مقدماتی قدمونه پورته کړل او دسولی او اوربند لپاره یی مناسب شرایط او فضا مساعده وگرځوله.

هماغه ؤ چی محترم حقانی صاحب دخپل اسلامی درایت او سیاسی بصیرت اوتدبر له مخی

دواره خواوی دواقعیتونو منلو ته متوجه او متقاعد کړل او له دواړو خواوو یی لیکلی واك ترلاسه کړ چی دوی به دواقعیتونو پر بنادسولی پریکړه منی، پدی توګه دنزاع دختمیدو، اورپند او سولی لپاره دجرګی پریکړی دتائید او عملی کیدو چانس ترلاسه کړ.

دهمدی کار لپاره دسولی هیئت وټاکل شو چی ددغه جرګی او روغی جوړی دعملی کیدو حالات مطالعه اوڅیړی او ذهنیتونه آماده او مثبت نتائج تر لاسه کړی ، پدی رابطه دوضعی دمطالعی او څیړنی په ځنګ کی ددواړو اړخونو په اړه دکافی معلوماتو په ترلاسه کولو او دعینی واقعیتونو دپه پام کی نیولو له مخی دقابل قبول حل او سولی پروسه پر مخ بوتلل شوه.

دغی روغی جوړی داهم ثابته کړه چی که افغانان د خپلو اختلافاتو او خپل منځی کشالو لپاره دجرګو اصل ته پاملرنه او له هغی څخه استفاده وکړی کولی شی خپل مشکلات د خپلو اسلامی او ملی ارزښتونو دپه پام کی نیولو له مخی په ښه او معقوله توګه حل کړی.ددغه جرګی دفعالیت جریان له الحاج مولوی جلال الدین حقانی سره په شوی مرکه کی چی دمجلی په همدی ګڼه کی خپریږی لوستلی شی .

پدغه جوړه او جرګه کی دغو مشرانو شخصیتونو برخه لرله:

دجرګی مشر :

الحاج مولوی جلال الدین حقانی

غړي

حاجی عبد الرحمن
ځدراڼ
حاجی محمد ابراهیم عمری
ځدراڼ
حاجی مادوخان
ځدراڼ
وکیل وزیر محمد
ځدراڼ
حاجی خانګل
ځدراڼ
خان صاحب وزیر
منګل
حاجی حبیب الله
منګل
حاجی نظام الدین
ګربز
ملك حسین
ګربز
حاجی شاه خان
ګربز
حاجی ولی
ګربز
حاجی مالیس خان
تنی
حاجی میربازخان
خوستوال
قوماندان ولسوال محمد حکیم
کابل
تورن خان محمد
کابل
قوماندان عجب ګل
کابل
قوماندان موسی خان
میدان
قوماندان میاسید آغا
میدان
خانصاحب انور خان
زرمت
وکیل سرورخان سلیمانخیل
کتواز
حاجی آدم خان جلال خیل
کتواز
شاه محمود صافی
کونړ
مولوی بخت میر
وردګ

د سولی پریکړه

د ۱۱-۸-۱۳۷۲ هـ ش نیټه دننګرهار په ډاکه کي دیوی پرتمینی غونډی په ترځ کی اعلان شوه - پدغه غونډه کی ګڼو علماوو او شخصیتونوخبری وکړی او دسولي دټینګښت له امله یی دسولی دهیئت له مشر محترم مولوی جلال الدین حقانی او دهیئت له غړو څخه دزړه له کومی مننه و کړه او پدی لار کی یی ددوی دهلو ځلو او تکالیفو دګاللو له امله دقدر دانی او امتنان دمراتبو څرګندونه وکړه . دادی موږ په همدی ګڼه کی دیوه تاریخی سند په توګه دسولی دپریکړی متن خپروو:

The Afghanistan Islami Daulat

د افغانستان اسلامی دولت

The Khust Vilayat

د خوست ولایت

( )Riast د (۱) ریاست

( )Sanga د ( ) څانګه

بسم الله الرحمن الرحیم

نحمده و نصلی علی رسوله لکریم و بعد! دمسلمان قوم په منځ کی اختلافات او جګړی دقدیم تاریخ څخه واقع شوی دی او واقع کیږی لکه ځرنګه چی د آدم علیه السلام دزامنو په مینځ کی او دیعقوب علیه السلام دزامنو په مینځ کی او دحضرت علی کرم الله وجهه او معاویه رضی الله عنه په مینځ کی او دنورو صحابه (رض) په منځ کی اختلافات او جنګونه واقع شوی دی او ترقیامته به جنګونه او اختلافات دوام لری او نبی کریم «ص) دعا وکړه چه خدایه زما دامت څخه منازعی او مناقشی ترقیامته پوری پورته کړی خو الله پاك ئی دعا قبوله نکړه نو الله پاك مسلمانانو ته همیشه په صبر ، صفحه ، عفوه او په احسان باندی اودبدی ځواب په نیکی ارشاد کړی دی نو کله چی ددوو ډلو مسلمانانو په منځ کی جنګ شروع شو بی طرفه مسلمانانو ته خدای پاك ددوی داصلاح امر او ارشاد کړی لکه چی الله پاك فرمایلی دی :«و ان طائفتان من المؤمنین اقتتلو فاصلحو بینهما فان بغت احدهما علی الاخری فقتلو التی تبغی حتی تفیٔ الی امر لله فان فأت فاصلحوا بینهما بالعدل و اقسطوا ان الله یحب المقسطین.

حم سورة الحجرات

نو کله چه څه موده مخکی دننګرهار او سروبی او احمد زیو مسلمانانو په منځ کی لانجه پیښه شوه او عام قتل او قتول شروع شو ددی لانجی دحل دپاره موږ دصلحی هیئت جانبینو ته دصلحی خواست وکړ نو دوی موږ ته عام و تام واك او اختیار راکړ.

دصلحی هیئت دډیر تحقیق څخه وروسته لاندی فیصلی صادری کړی او دهرجانب څخه یې اوه میلیونه کلداری نقد ضمانت واخیست.

۱- هغه خلك چه په دواړو جانبو کی مړه شوی دی دهغه په باره کی د ځینو ملحوظاتو په خاطر دصلحی هیئت یوکال کانی کیښود او دذغه ذکر شوی وخت په تیریدو یامخکی ددی تاکلی وخت څخه به دصلحی هیئت په ذکر شوی برمته دغه معامله انشاء الله فیصله کوی یعنی دمړو خلکو فیصله ددی هیئت په غاړه ده، جانبین به دمړو په معامله کی یو په بل کار نلری، دمړو خلکو دوارثانو حقوق کاملأدصلحی دهیئت په لاس کی دی، دوی دواړو جانبو دخلاف په صورت کی په ذکر شوی برمته ځانونه بند کړل او هم ئی دخدای په قرآن ځانونه بند کړل.

۲- شخصی مالونه به جانبین یوبل ته واپس ورکوی او دواړه جانبه به خدای (ج) حاضر او ناظر بولی، حقه حقونه دمستحقینو ته ور کړی او که بیا هم دکوم جانب قناعت حاصل نشو نو دصلحی هیئت فیصله به ددوی په حصه کی آخری فیصله وی.

۳- دشمالی خان په عوض په شوراکی دده دګروپ یو صالح سړی چه دننګرهار مربوط وی مقرر شو لاکن چه دده دکورنی په استثنا وی.

٤- دډاکی غونډ چه سابق دپیر صاحب مربوط ؤ هغه دپیر صاحب زوی محمد آغاته ورکړ شو لاکن شرط به داوی چی پیر صاحب به داغنډ داسی شخص ته حواله کړی چی دجانبینو دقناعت وړ وی.

ب: دشمالی خان دننگرهار مربوطه قرارگاوی او مرکزونه دسابقه تعامل له مخی دټولو لوژستیکی او نظامی موادو سره ورته حواله شوه البته په دی قطعو کی دنورو ولایاتو او سابقه رژیم او نورو تنظیمونو خلك دشمولیت حق نه لری.

ج- هغه مرکزونه او قرار گاوی چه احمدزیو دمقابل لوری څخه ددی موجوده شخړی په سر نیولی دی هغه خپلو مربوطه قوماندانانوته چه په سروبی اوزبین، تیزین، حصارك او ملاعمر بابا کی موجودیت لری سره دلوژستیکی او نظامی موادو په مکمله توگه حواله شوه.

٥- دننگرهار اداره باید دسابق په شان خپلو شوراگانو او وظایفوته ادامه ور کړی او دسابقه تعامل له مخی دقوماندانانو سره چار چلند وکړی چه دچا قانونی شکایت پورته نشی او کوم قطعات او جزتامونه امنیتی یانظامی چه دننگرهار د اداری له لاری اکمال کیږی هغه دېداداری دحکم پیرو او خپلو وظایفو ته د اداری دحکم سره سم دوام ور کړی .

٦- دکابل څخه تر طورخم پوری باید هیڅ نوع پاټك غیر اصولی او غیر قانونی دمحصول او جریمی په بهانه وجود و نه لری او کوم کسان چه ددغه مادی خلاف ورزی کوی ددغو کسانو مقابله او مخ نیوی به جانبین په مشترك ډول کوی هیڅ نوع تنظیمی یاقومی ملاتړ به جانبین نکوی .

٧- دفیصلی داعلان څخه وروسته باید په دوو ورځو کی جانبین شوراگانی لښکرونه او سنگرونه دیوبل په مقابل کی په کلی ډول ختم کړی او خپل عادی ژوند ته دوام ورکړی.

٨- هغه قوماندانان چه دشمالی خان دمرگ څخه وروسته دشورا او وظیفو څخه تللی دی باید خپلو ، خپلو وظایفو ته چه شورا ورته سپارلی دی حاضر شی.

٩-دفیصلی داعلان څخه وروسته سمدستی باید دصلحی هیئت او جانبین منتخب شوی هیئتونه په مشترك ډول دفیصلی دموادو په تطبیق کی اقدام و کړی.

ومن الله التوفیق، والله اعلم و الله علی امانقول وکیل



بسم الله الرحمن الرحیم

Hezb - e - Islami Afghanistan Head Office of Molvi Jalal ud Din Haqqani For Social Affairs of Afghan Mujahidin Date	**حزب اسلامی افغانستان** دفتر مرکزی مولوی جلال الدین (حقانی) اداره خدمات اجتماعی مجاهدین تاریخ ۱۵/ ۹/ ۱۳۷۳

الجهاد ماض الی یوم القیامة

مور. دننگرهار شورا او احمد زیو شورا چه کلی واك او اختار مو دواړو جانبو دصلحی هیئت ته ور کړی ؤ او دصلحی هیئت په ۱۱-۸-۱۳۷۲ کال (۸۷٦) نمبر فیصله صادره کړه مور. دواړو جانبو نوموړی فیصله چه په نهو مادو کی لیکل شوی او په ډاکه کې اعلان شوه دټولو مادو سره ومنله لکن ځرنگه چه دذکر شوی فیصلی په دریمه ماده کی دشمالی خان په عوض دده نماینده چه دده دکورنی په استثنا وی دصلحی دهیئت دطرفه تعین شوی ؤ اوس ددی لپاره چه فیصله ډیره مؤثره او دبهبود طرف ته روانه شی نو دشمالی خان دنماینده په عوض دده ورور حاجی منجی ددواړو جانبو په توافق ومنل شو او مور. دواړه جانبه مشران دصلحی هیئت ته ددی لیك پواسطه اطمینان ور کوو چی مور. نور ټوله فیصله منلی ده لاکن فقط حاجی منجی زمور. سره دفیصلی دبهبود په خاطر تاسو هم و منی.

ومن الله التوفیق

هفته نامهٔ

اتحاد اسلامی

بیانگر آرمان اتحاد اسلامی افغانستان

شمارهٔ مسلسل(۳۱۰)سال دهم ـ شمارهٔ چهاردهم

بازتاب فعالیت هاي صلح در مطبوعات

په سروبي کې تراوربند وروسته آرامی ده

په سروبی کی تراوربند وروسته آرامی ده

مینځګړو ډلو هڅی ګرندی کړی او دواړو خوا مولوی «حقانی» ته تحریری واك ورکړی .

کابل : د تلی ۲۷ د اتحاد اسلامی خبریال :

په سروبی کی تر ینځه ورځنی جګړی وروسته اوس اوربند نافذ شوی او دواړه خوا وی پردی راضی شوی چی دا مسئله د خبروله لاری حل کړی .

د نوموړی ښار څخه د اتحاد اسلامی خبریال خبر راکوی چی اوربند هغه وخت نافذ شو کله چی ددواړو خوا و څخه مینځګړو ډلو وغوښتل چی دا مسئله دخبرو له لاری حل کړی په مینځګړو ډلو کی د دولت یو با صلاحیته هیئت د حزب اسلامی یو هیئت او د جلال الدین حقانی په مشری یو بل هیئت شامل دی ، اوس دواړو خوا و د خپلوغوښتنو اوورانديزونو سره سره مولوی جلال الدین حقانی ته تحریری واك ورکړی چی دا مسئله په منصفانه توګه حل کړی د احمد زیو مشران وایی باید ټول هغه اموال اووسایل چی د حاجی شمالی څخه اخیستل شوی شوراته وسپارل شی د ننګرهار په شورا کی دهغه دنده بیرته د هغه یو بل تن ته وسپاری او قاتلین بی محاکمه شی خو د ننګرهار شورا بیا تکرار وی چی موږ په دی لټه کی یو چی د هغه قاتلین پیدا کړو.

زموږ خبریال زیاتوی امید دی چی دواړه خوا وی د مینځګړو ډلو فیصلی ته غاړه کیږدی او که خدای مکړه دا لانجه دوام وکړی د نورو بدو عواقبو تر څنګ به کابل ښار د سختی اقتصادی محاصری سره مخ کړی .

شاهراه عمومی کابل-جلال آباد به روی ترافیك بازگردید

جلال آباد - ۲۷ میزان :

شاهراه عمومي کابل - جلال که تقریباً دوهفته قبل به روي ترافیك مسدود گردیده بودبروزسه شنبه ۲۷ ماه میزان دوباره بازگردید

طبق گزارش : الحاج مولوي جلال الدین «حقاني» که ریاست هیئت صلح نزاع جاري درمسیرشاهراه رابه عهده دارد اعلان کرد که به موافقهٔ جانبین شاهراه براي مدت ده یوم که مدت منازعه نیزتعیین شده است به روي ترافیك بازبوده آتش بس مراعات مي گردد. تادرنتیجهٔ تلاش هاي هیئت صلح یك آتش بس دایمي قائم ومصالحه به میان آید .

بناءً شاهراه سرازروزسه شنبه ۲۷ ماه میزان بروي ترافیك بازوحوالي عصرهمین روزچهارعراده موترسواري ازجلال آباد به طرف کابل حرکت کرد .

شهادت

ارګان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

(۸) صفحه

(۱۱) عقرب ۱۳۷۲ هـ ش (۱۸) جمادي الاول ۱٤۱٤ هـ ق

دجلال آباد جهادي شورى اوداحمدزيودقوم مشرانو په يوه دايمي اوربند موافقه وكړه

پېښور _ دلرم ۱۰ : تیره ورځ دافغانستان داسلامي حزب دپکتیاولایت عمومي قوماندان اودافغانستان داسلامي دولت دعدلیې وزیرمحترم مولوي جلال الدین حقاني چې په سروبي ولسوالي کې دجلال آباد دجهادي شورا اواحمدزیودقوم ترمنځ دسولې دهیئت مشري په غاړه لري دخپلو هلوځلو اوپریکړوپه باره کې نن په پېښورکې خبریالانوته وویل چې په جګړوکې شاملو دواړوخواوپه یوه دایمي اوربند اودلاري په آزادپرېښودلو باندې موافقه کړې اوان شاء الله العزیز چې دامسئله به نوره هم په بند صورت حل وفصل شي .

په ننګرهار کې دلانجې په حل کې دمنځګري هیئت څرګندونې

دننګرهار دجهادي شورى اواحمدزيو دقام ترمنځ دلانجې پهحل کې دمنځګړي هيئت مشر مولوى جلال الدين حقانى له احمدزيو سره دخبرو لپاره سروبى ته رسيدلى اوهلته يې وويل چې دخبرو لومړى پړاو پيل شوى ده. دهمدارنګه دننګرهار دجهادي شورى سره هم وکتل اودهغوى سره دموضوع په اړوند خبرې وکړې ده وويل بنايې په مقدماتي ډول دکابل تورخم لاره دلېسو ورځو لپاره پرانستله شي.

ده وويل ددواړو خوا غوښتنې بايد دانعطاف په لور خوځښت ولري ترڅو دغه لانجه اواره شي ، ده دغه شان وويل چې که دواړو خواو کې کومه خوا دمنځګرى هيئت فيصله ونه منله نو هغه جريمه ترې واخيستله شي چې په دې اړه تاکل شوى ده .

دکابل تورخم لاره له څو ورځو راپديخوا دترافيکو پرمخ تړلې چې دغه کار دخوراکي اواستهلاکي موادو دبيې په لوړوالي ژورتاثير اچولى اودکابل خلك له زياتو ستونزو اوکړاوونو سره مخامخ دي

(۸) صفحه

شهادت

ارګان مرکزي حزب اسلامي افغانستان

١٣ عقرب ١٣٧٢ هـ ، ش ٢٠ جمادي الاول ١٤١٤ هـ ،ق

زه پلدي يقين لرم چي ان شاء الله زمونږ فيصلي به په بشپړه توګه عملي شي

مولوي خالص

دننګرهاردجهادي شورااواحمدزيودقوم ترمنځ دسولي واوسيدني پريکړه

دننګرهار دجهادي شورا اواحمدزيودقوم ترمنځ دفيصلو اوپريکړوله اعلانولو وروسته دننګرهاردجهادي شورارئيس الحاج عبدالقديردخپلي يوي لنډي وينايه ترځ کي وويل مونږ هيڅکله بې ځايه ديوه مسلمان وينه توبول نه غواړو اومونږهروخت له داسي عملونو څخه کرکه اونفرت څرګندکړی ده وويل په اوسنيوشرايطوکي هيڅ دول جنګ جګړي دمسلمانانو په ګټه ندي مونږهميش داکوښښ کوو چي په هرځاي کي دجګړي مخه ونيسو وروسته داحمدزيودقوم مشرمحمد نعيم کوچي دغونډي دپريکړي په هکله داسي وويل : داتولوته بهتره معلومه ده زمونږاودننګرهاردجهادي شوراترمنځ چي يولوي جنجال رامنځ ته شوي وو، چي دي جنجال ته حکمتيارصاحب هم راغلي اوحضرت صاحب تشريف راوړاودوادو رهبرانوزياتي هلي ځلي وکړي، چي داجنجال حل کړي خوبدبختانه چي داجنجال حل نه شو. اوترسرويي وروسيداودجګړي اوربل شو ده وويل : دمولوي صاحب جلال الدين «حقاني» ترمشري لاندي دسولي يوه هيئت تشريف راوړاومونږدواړوخواوونه واک اواختياورواخيست اومونږکاملاً اوعام و تام اختياوردوکړ اوبه سوونوميله وسله اوزياتي نقدي رويبي مويد ګروکي ورکړي . هغه وويل په پښتنوکي اريد خاصه توګه په احمدزيوکي دابوه لويه عنعنه ده چي واك يوځل چاته ورکړي بياهغه فيصله څوك نشي ماتولاي نومونږ چي کوم واك ورکړي اوکومه فيصله چي هغوي کړي هغه مونږبالکل منواوزمونږتول قوم ترې ملاتړکوي . په آخرکي دسولي دهيئت مشرمحترم مولوي صاحب جلال الدين «حقاني» دخپلوهلوځلواوپريکړو په باب وويل مونږ تول ډيرخوشحاله يو، مونږدلته ډيره دصميميت اودوستي فضاوليدله اوډيره دورورولي فضارامنځ ته شوه خوش بختي خوداشوه چي لله الحمد دلته يودايمي اوربندوشواودلاري به خلاصون دايمي موافقه وشوه تراوسه پوري مونږداسي څوك ندي ليدلي هغه وواني چي دافيصله زمونږبه ضرربانډي ده اوټولومونږته په صميمانه دول وعده راکړي چي دافيصله به تطبيقوي اوزه بالکل پدي ايمان لرم چي دابه ان شاء الله په بشپړه توګه عملي شي.

محاذ

دافغانستان دملي اسلامي محاذ نشراتي ارگان

تجربه جدید باردیگر ثابت کرد که افغانها مشکلات خود را فقط ازطریق جرگه ها میتوانند حل وفصل نمایند

اخیراً یک سلسله مشکلات سیاسی ونظامی در ولایت ننگرهارواطراف آن به سبب مرگ حاجی شالی خان یکتن ازقوماندانان برجسته جهادی بروز نمود که به علت برخی عوامل این حادثه حیثیت یک بم درحال انفجار به خود را گرفته هرگاه با تعقل وخردنسبت به آن برخورد صورت نمیگرفت اوضاع درین ولایت خیلی وخیم شده وسرنوشت هزاران هزارباشنده آن ها آواره گی ومرگ گره میخورد.

مرگ شالی خان که در مشکلات سیاسی داشت به حلقه تنظیمی شخصی مبدل شد ابتداء جنبه شخصی به یک مساله قومی آورده بود. شامل شدوسپس به یک مساله قومی راببرجرد گردید . اما که خطر تصادم اقوام ومغزنج گردید سران قوم حادثه خیلی پیچیده شده دلسوزانه مساعی معروف جهادی محترم صرف به اثر مساعی معروف جهادی محترم ویکتن از قوماندانان معروف . حل این مشکل مولوی جلال الدین حقانی ازطریق جرگه که سنت بزرگ ونزاع پیش آمده ازطریق جرگه که سنت دیرین افغانی است .

مورد بررسی قرار گرفت . درحالیکه برخی ازبرادران ودوستان جرگه را برای حل منازعات کشور مارد مینمایند وآنرا یک اصل کهنه وغیر قابل عملی می دانند ولی عملا جرگه افغانی توانست، یکی ازبزرگترین منازعات محلی قومی را که هم گره تنظیمی داشت وهم مشکلات دولتی وحکومتی حل وفصل نماید. اهمیت این جرگه زمانی افزایش یافت که درراس آن یک عالم برجسته دینی وقوماندان مشهور جهادی محترم حقانی قرار داشت وموصوف توانست باتوجه به آیه مبارکه وامر هم شوری بینهم ، این منازعه دوطرف را به جرگه وادارد وهر دوطرف براساس رسم وسنت افغانی فیصله های جرگه رامحترم شمرده وسنگ صبروتحمل را برمیدان نهادند. گرچه ممکن است عده یی ازنتایج این فیصله که درآن منافع ملی مضمراست دل خوش نداشته باشند وباتحریک برخی عناصر معضله دیگری رامطرح سازند اماعلی العجاله موثریت ومفیدیت این جرگه که آتش راخاموش ساخت وطرفین رابه صبروازخود گذری دعوت کرد خیلی زیاد است واین تجربه راباید درحل سایرمسایل منجمله معضله سرنوشت سازوطن وملت یعنی ایجاد زعامت ملی ودفع منازعات تنظیمی استفاده شود به خصوص که میان دو تنظیم عمده هم اکنون نزاع واقع است واختلافات وتصادمات نظامی شان صدها هزار نفر را آواره وبی خانمان ساخته وکشور مارا بطرف فنا وسقوط سوق داده است وجهاد به خاطر جنگ آنها القاتها رافراموش می کنند وازکمک بشری امتناع می ورزند .از این تنظیم ها . . . یکطرف آن حاضر گردیده باید ازبازی با سرنوشت ملت دست بکشند واجازه بدهند درحالیکه انتخابات درشرایط کنونی ناممکن وغیر عملی است به لویه جرگه متوصل شوند وملت افغان سرنوشت خویش را تعیین نمایند. البته قابل تذکراست که درین جا باتدویر جرگه وحل معضله نه کدام بغرب زده گی،به مشاهده رسید ونه هم کدام فریاد دیگری که اکثر ازگلوی برخی ها به هنگام یاد آوری ازنام لویه جرگه بها بالا میشود. بلکه صاف وساده براساس امراسلام وامرملی حل وفصل شد .

دننگرهار جهادي شوري او احمدزيو ترمنځ دمنځگړي هيئت څرگندوني

دسولي هغه هيئت چې دننگرهار دجهادي شوري او احمدزيو دقام ترمنځ دپيداشوي مشکل دحل په اړه منځگړيتوب کوي خپل کارته دوام ورکړي او د دواړو خواو ترمنځ تېنگ شوی اوربند يې دعقرب تر ۱۱ نيټې پورې اوږد کړي دي

الحاج مولوي جلال الدين حقاني چې دغه هيئت مشرتوب په غاړه لري وويل چې دوی به خپلو هلو ځلو ته دوام ورکړي او دشخړي دحل لپاره به بيلابيلې لارې ولټوي . يو پېشنهاد دادی چې په هيواد کې دې دقانون دحاکميت تروخته دشهيد قوماندان شمالي خان دقتل موضوع دشرعي څېړنې لپاره دوه کاله وځنډول شي او اوس دې دواړه خواوې ديولې غوښتنو په منلو سره اوربند ومني او

دهيواد روان حالات او اوسنۍ ستونزې ددې غوښتنه کوي چې دواړه خواوې دي خپل کړه وړه وانيبه تنظيم کړي چې دغه لانجه ددواړو خوا وترمنځ ديوې بلې جگړې سبب نه شي اوهم له دې مسئلې نه دغرض خاوندان دځان په گټه استفاده ونه کړي اوپه هره بڼه چې کيداي شي دغه مسئله دې د وروري او افغاني روحيې په فضا کې د روغې جوړې له لارې حل شي .

ورځپاڼه پېښور

THE DAILY WAHDAT PESHAWAR

وحدت

چیف ایډیټر: پیر سفید شاه همدرد

د زیارت (پنځه شنبې) ورځ، ۱۸ د ربیع الاول ۱۴۱۴ هـ ق، ۱۳ لړم ۱۳۷۲ هـ ش، ۴ نومبر ۱۹۹۳، ۱۹۰۰۲ کتک، ۰۵۰ . ۲۰۲۰ب، جلد ۸، شماره ۲۳۹

ننګرهار کښې د یو کال تېګه کېښودل شوه

دوړلې شوي کسانو د قتل بدل به یو فریق هم نه اخلي

جهادي شورى او احمدزيو قوم د مولوي جلال الدين حقاني فيصله ومنله، دوړلې شوو کسانو د قتل بدل به يو فريق هم نه اخلي

د مرحوم حاجي شمالي عهده به د ده زوى پير ګيلاني محاذ ملي ته ور کړې کيږي

جهادي شورى او احمدزيو قوم د مولوي جلال الدين حقاني فيصله ومنله، دوړلې شوو کسانو د قتل بدل به يو فريق هم نه اخلي جائيداد به ئي خپلوانو ته سپارلې شي، غونډه به ئي د پير ګيلاني محاذ ملي ته ور کړې کيږي

د مرحوم حاجي شمالي عهده به د ده بل کوم وارث ته ور کولې شي جائيداد به ئي خپلوانو ته سپارلې شي

کابل نه تورخم پورې به د ټيکس یا محصول د پاره هیڅ غیر قانوني پاټک نه جوړولې کیږي

د صلحې هیئت خپله فیصله لنډي خیبر کښې اعلان کړه، د ننګرهار او احمدزو سوونو مشرانو او سپین ږیرو شرکت وکړو

لندن (رېډيو رپورټ) د ننګرهار شورى او د احمدزو قوم چې مولوي جلال الدين حقاني ته ني د دوى تېر ښخه د سينځکر توب واک ور کړې و د نوموړي فيصله منلې ده د کماندر حقاني فيصله کښې ويلي شوى دي چې د کماندر شمالي د قتل نه راپيدا شوې شخړه کښې د دوړلې شوو کسانو د قتل بدل به يو فريق هم نه اخلي د مرحوم شمالي خان جائيداد به د هغه خپلوانو ته سپارلې شي او د ده عهده به د ده بل کوم وارث ته ور کولې شي د مرحوم شمالي غونډه به د پير ګيلاني ملي اسلامي جبهې ته سپارلې شي شورى دې د پخوا په شان خپل کارجاري وساتي د تفصيلاتو مطابق پرون غرمه په لنډي خيبر کښې د ننګرهار جهادي او د احمدزو د قوم ترمنځه د حاجي شمالي خان د قتل نه راپيدا شوې شخړې د هوارې لپاره د صلحې هيئت چې مشري ئي د جلال الدين حقاني په غاړه وه خپله فيصله اعلان کړه د اړوخوا د کماندر حقاني د فيصلې هر کلے کړے دے غونډې کښې د ننګرهار او احمدزو سوونو مشرانو سپين ږيرو هم ګډون وکړو کړ شمير عالمانو او قومي مشرانو غونډې ته خطاب وکړو او د اسلام او افغاني روايا تو مطابق به دې معامله ني رڼا واچوله د صلحې هيئت تر درېو هفتو دې سلسله کښې هلې ځلې وکړې د بي بي سي مطابق د فيصلې تفصيلات به دې دول دی هغه خلق چې به دې شخړه کښې مړه شوي دي د هغوى د بدل په حقله د صلحې هيئت تړون کال تيګه کېښوده د واړه طرفونه به د ذاتي ملکيت او مال سامانان يو بل ته واپس ور کوي د مرحوم حاجي شمالي خان په عهده د ده د کورنۍ يو داسې کس چې د ننګرهار سره مربوط وي.

باقي صفحه آخر علوم کالم

دواړه طرفونه به د صحلي د هیئت فیصله ومنی، مولوی حقاني

لندن (بي بي سي) د حزب اسلامي خالص کماندانو د ننګرهار شورا او احمدزو ترمنځه د صلحې د مینځګړي هیئت مشر مولوي جلال الدین حقاني هیله څرګنده کړې ده چې د ننګرهار د شورې او احمدزو قوم ترمنځه د کومې فیصلې اعلان سو نو دواړه طرفونه به دا فیصله ومني او به مستقبل کښې به د دې فیصلې لاندې خپلو ننګ ته وده ورکړي.

جوړولې کیږي او د دې معاهدې خلاف ورزی چې هر چا وکړه د هغو خلاف به فریقین په شریکه اقدامات کوي او فریقین به هیڅ تنظیمي یا قومي ملاتړ نه کوي د فیصلې د اعلان نه وروسته به دوو ورځو کښې فریقین شورا ګانې، لښکرونه او سنګرونه د یو بل خلاف ختم کړي هغه کماندانان چې د حاجي شمالي خان د مرګ نه وروسته د شورا د وظیفو نه تلي دي به د شورا لخوا وسپارلې شو و خپلو خپلو وظیفو ته راستنیږي د فیصلې د اعلان نه پس سمدستي به د صلحې هیئت او فریقین منتخب شوي هیئتونه په شریکه د فیصلې د موادو په تطبیق کښې اقدام کوي

...باتي: ننګرهار یکه

عهد به ... رشود ... کې غونډ پخواني د پیر ګیلاني سره ارتباط لرلو د پیر ګیلاني زوی محمد اغا ته ورکړے شو خو شرط پکښې دا ... ے چې پیر ګیلاني به دا غونډ کوم داسې کس ته سپاري چې دواړو فریق ورباندې متفق وي د شمالي خان د ننګرهار سربوط قرار ګاوې مرکزونه د پخواني تامل لۀ مخه د. ټول لوجستیکي او تنظامي مامورو سره ورپه حواله شوه البته دې تو تیو کښې د نورو ولایتونو، د پخواني رژیم او نورو تنظیمونو خلق د شمولیت حق نۀلري هغه مرکزونه او قرار ګاوې چې دواړو فریقو د دې موجودې شخړې په سرنیولي دي خپلو هغه متعلقه کماندانو چې په سروبي، او زبین، تیجین، حصارک او ملا عمر بابا ... کښې موجود دي ته وسپارلے شوې د ننګرهار اداره به د پخوا پشان خپلې شوراني سرګرمي جاري ساتي کابل په تورخم پورې به هیڅ پاټک د ټیکس یا محصول لپاره په غیرقانوني ډول نۀ

ورځپاڼه

وحدت

پېښور

THE DAILY WAHDAT PESHAWAR

چیف ایډیټر: پیر سفید شاه همدرد

کال ۸ ... شماره ۲۳۲

راتلونکو پینځوورځو کښې به بحران حل شي، مولوی حقاني

دمصالحت په لړ کښې پرمختګ شوے دے: دلسوو رځو د پاره شوے اوربند د نهي ورځې پورې اوږد کړے شوے دے

دواړه فریقه د دوو کالو د پاره په ټیکه کیښود و متفق سوي دي، چې د غسې د شریعت مطابق حکومت مستحکم شي

پېښور (بي بي سي) کماندر جلال الدین حقاني ویلي دي چې د احمدزیو د شورې او د ننګرهار د شورې ترمنځ به مصالحت کښې پرمختګ شوے دے. پرون بي بي سي

سره د مرکې په وخت ده وویل د مصالحت د پاره چې کوم اوربند شوے وو هغه د راتلونکي سه شنبې (نهې) پورې اوږد کړے شوے دے تر څو چې حتمي فیصله او دواړو طرفونو ته قناعت ورکړے شي. ده وویل چې

دواړه طرفونه به خپل لستونه (فهرستونه) حاضروي تر څو حتمي فیصله اعلان کړے شي. ده زیاته کړه چې ما ته وعده راکړے شوې ده چې نن (زیارت) به د صلحې هیئت ته لستونه سپارلي شي.

په خوست کې داتحاد علمای افغانستان تر سرپرستی لاندی

دجهادی قوماندانانو، قومي مشرانو او ولایتی ارگانونو دمسؤلینو گډه غونډه

د ۱۳۷۲ لمریز کال د زمري میاشتي په ۳ نیټه په خوست کي د اتحاد علمای افغانستان تر سر پرستي لاندي په هیواد کي د سولي ، ثبات او د اختلافاتو او جگړو د مخنیوي او په بشپړه توگه د اسلامي نظام د پلي کولو په غرض په هیواد کي د سرتاسري تفاهم په غرض ، یوه ستره او پرتمینه غونډه جوړه شوه - پدی غونډه کي د مجاهدینو سترقائد الحاج مولوي جلال الدین حقاني ، د خوست والي ، د ولایت مرستیال او د ولایتي ادارو رئیسانو او مسؤلینو او همدارنگه گنیو جهادي قوماندانانو او قومي مخورو برخه درلوده ، غونډه له غرمي مخکي په لسویحو د خوست د جامع جومات په احاطه کي د قرانکریم د مبارکو ایتونو په تلاوت سره پیل شوه ، لومړی مولوي عبدالوارث په خپله افتتاحیه وینا کي وویل : تفرق په هیڅ نوم او عنوان جایز ندي د حزب ، قوم ، سمت ژبي او...په هیځ نوم تفرق رواندي .

ده وویل : د مجاهدینو د بي اتفاقي له امله د کمونستانو بقایاوو او ملحدینو ته د فعالیت زمینه برابره شویده، د مسلمان مکلیفیت د مسلمانانو په منځ کي د سولي مکلفیت دي چي باید سوله وکړي، موږ باید له هغو سره ملگري شوچي د سولي لپاره کارکوي .

لدي وروسته استقبالیه شعر وویل شو او وروسته مولوي قلندر وینا وکړه چي په یوه برخه کي یې وویل: مسلمان باید له مسلمان پرته بل څوک دوست ونه نیسي ، ده وویل چي د کفارو په دوستي کي ددنیا او آخرت زیان دي موږ باید کمونستان او دهغوی بقایا له خپلو څنگو څخه لیري کړو او یو واقعي اسلامي حکومت جوړ کړو

بیا مولوي حفیظ الله مجددي ته د وینا بلنه ورکړی شو ، ویې ویل : موږ په حکو-مت پدي هیڅ اعتراض نلرو چي دا دکوم تنظیم حکومت دي د کوم سمت او څوك دي بلکي پدي اعتراض کوو چي اسلامي احکام یې په بشپړه توگه ندي تطبیق کړي او کمونستان یې پخپل څنگ پوري نیولي دي .
له دي وروسته د مجاهدینو ستر قاید الحاج مولوي جلال الدین حقاني ته بلنه ورکړی شوه چي

خپله وینا واوروي
حقاني صاحب له حمد او ثنا وروسته وویل :
عزتمندو مسلمانانو ! تاسي چي له لیری لیری سیمو نه د اسلام او مسلمانانو د امورو د اهتمام لپاره حاضر شوي یاست او تکلیف مو ایستلي له الله تعالي (ج) نه تاسي ته د هر قدم اجر غوارم - موږ لدغه علماوو ډیره مننه کوو چي په خوست کي دغه پرتمیني غونډي ته راغلي دي تر څو د خپل وطن او ملت لپاره د اسلامي سوچه نظام په رڼا کي دسو کالي سولي او ترقي لپاره لار پیداکړو او دمو جوده دربدریو او جګړو مخه ونیسو داډیره نیکمرغي ده چي تاسي د خوست په جامع جومات کي په داسي حال کي چي له یوه خداي نه ماسوا له بل هیچا ویره نلري او ددین غم خوري او خپل نظر په آزادانه توګه د اسلام او وطن په حق کي څرګندوي راغونډ شوي یاست، د هیواد له مختلفو ولایتونو څخه دالله تعالي ددین حامیان مجاهد علما چي په جهاد او هجرت کي یي له هیڅ ډول قرباني دریغ ندي کړي او ددوی په فتوي جهاد او قیام شروع

موږ باید داسي عملونه ونکړو چي ملت له مجاهدینو څخه زړه توري شي او دجهاد وسله په خپل منځي اختلافاتو اوتریګني کي استعمال کړو

شوي او له روسانو څخه یي خپل وطن آزاد کړي اوس هم تاسي مکلف یاست لکه څنګه مو چي د حق په لار کی جهاد کړی د حق په اظهار کی هم جهاد وکړي .
عزتمندو ورونو ! کمونستان او ملحدین هیڅکله هم زموږ دوطن لپاره دوستان نشي کیدی کله چي د اسلام پیغمبر حضرت محمد صلي الله علیه وسلم مکه فتحه کړه کافران یي معاف کړل ، خو پداسي حال کي چي هغوي په اسلام مشرف شول داسي نده شوي چي دوي ته یي په حکومت کي ځای ورکړي او داسي هم نه چي همداسي یي پخپل کفر کي پري ایښي وي، هغوي د مسلمانانو فرمانده ندي پاتي شوي مسلمان باید برلاسي وي نه داچي محکوم وي .
الحاج مولوي جلال الدین حقاني زیاته کړه : هغه جهاد چي کمونیزم یي په ټوله نړۍ کی له شکست سره مخامخ کړ، د روس امپراطوري یي دړي وړي کړه اوس نو د کمو نیزم د بقایاو و ختمول او دیوه مسقر اسلامي حکومت جوړول کومه سخته خبره نده .
محترم حقاني صاحب د خپلو خبرو په ترځ کي وویل : موږباید داسي عملونه ونکړو چي ملت له مجاهدینو څخه زړه توري شي او دجهاد وسله په خپل منځي اختلافاتو او تریګني کي استعمال کړو، باید په لارو کي پاټکونه وانه چوو لاري بندي نه کړو ځکه دا یو ډول قطاع الطریقي هم ګڼل کیدی شي ، بیت المال خپل

شخصي مال ونه گڼو نن چې
علما قوماندانان او د قوم
مشران راټول شوي ددې لپاره
چې په حکومت کې اصلاحات
راوستل شي د مفسدینو
مخنیوي وکړي حکومت په
اسلامي پالیسي روان او د عدل
اونصاف حکومت جوړ کړي
علماء د همدې لپاره راغلي او
همدا مقدس هدف په مخه کې
لري. تر څو د ظالم او مفسد
مخه ونیول شي د ملت مال ،
ناموس او ابرو محفوظه و
گرځول شي او حکومت او نظام
په بشپړه توگه اسلامي شي .

له حقاني صاحب وروسته د
اتحاد علماي افغانستان مشر
محترم ذاکري صاحب وینا
وکړه وېيل : گرانو حاضرینو
مسلمانانو ! د جامعي مشر د
جامعي خادم دي په اسلام کې
آمریت اومشري د باداري په
معنا نده بلکې د خدمت په
معنا ده .

ذاکري صاحب زیاته کړه : د
کابل په حکومت کې څه نواقص
شته دوي تر اوسه داسلامي
حکومت اونظام د قایمولو وعدې
ندي پوره کړي ، ددغي وعدې
د عملي کیدو لپاره ټول ملت
قرباني ورکړي ، اوس زموږدا
گیله ده چې دا وعده نه ده پوره
شوي زموږ د مجاهد ملت
قرباني داسلام لپاره وه د
اسلامي نظام د قایمولو لپاره وه
، د خوست مجاهد ولس هم دا
ټولي قرباني د همدي لپاره
ورکړي ، دوي د هر څه قرباني
ورکړه د سر ، مال او لاد ټولو
قرباني ته حاضرشول .

ذاکري صاحب زیاته کړه : موږد
باداري او مشرتوب لپاره دلته
نه یوراغلي ،زه هم پدغه
اجتماع کې یو شخص یم .

ورونو ! په کابل کې ډیر بد
حالت روان دي د اقتدار
جنگونو د ملت وقار او جهاد ته
سخته صدمه رسولي ده موږ
ددغو جنگونو د بندولو لپاره
راولاړ شوي یو او دیوه سوچه
اسلامي نظام د قایمولولپارهلي
ځلی کوو موږپه ډاگه اعلان
کوو چې موږ نه پښتانه یو ، نه
تاجك یو او نه ازبك یو، موږ
یواځې مسلمانان یو موږ تر
قوم ، حزب ، سمت ژبي او هر
څه ورتیر یو خو تر اسلام نشو
تیریدلي .

دا اوس چې په حکومتي ادارو
کې د پخواني کمونست رژیم
بقایا فعالیت کوي او هر یوه
پخپل ځنگ پوري دا د اسلام
دښمنان او د ملت قا تلان
نیولي دا د مسلمانانو لپاره
ډیره دردوونکي خبره ده .

موږ نه د قوم او تنظیم حمایه کوو
او نه د سمت؛مخلوط حکومت په
اسلام کې هیڅ ځاي نلري .

گرانو ورونو!زه په لنډو ټکو کې
خپل مطلب یو ځل بیا تکراروم :
موږدا غواړو چې د الله تعالي
کتاب راسره ومني موږ به یې
حکومت ومنو او تر خپلې وسي
به یې حمایه کوو.

(گډون کوونکو ټولو د تائید
لاسونه پورته کړل او د الله اکبر

د جامعي مشر د جامعي خادم دي په اسلام کې آمریت اومشري د باداري په معنا نه ده بلکي د خدمت په معنا ده .

په نارو سره يې ددې غوښتنو
څخه خپل ملاتړ څرګند کړ)
ذاکري صاحب وويل : موږ د
همدغه هدف لپاره راتهول شوي
يو ، نه د چا له خوافرمايش او
دستور راکړی شوی او نه د
کومي هوا او هوس له مخي
راتهول شوي يو ، نه د حزب پر
بنا څو ك راتهول شوي اونه دقوم
يا بل دنيوي خواهش پربناء ،
فقط د الله تعالي ددين
د چلولو لپاره ديوي طريقي د
پيداکولو لپاره راتهول شوي يو
، موږ د قوم حزب او سمت
فاصلي ختمي کړيدي .
په پکتيا کي جهاد ډيره اوږده
سابقه لري دلته جهاد اوفتحه
دواړه اوږده سابقه لري ، په ګرد
افغانستان کي له همدي پکتيا
نه ددغه فرض (جهاد) د
ژوندي کولو اغاز شويدي ، دا
د الله تعالي ډير لوي نعمت او
افتخار دی دا دډير شکر ځاي
دي چي نن په خوست کي د
نبوي سنتو د ژوندي کيدو
لپاره د علماوو،قوماندانانو او
مشرانو غونډي جوړيږي ، دلته
داتهولي قرباني چي ورکړې
شوی ددين د عظمت لپاره دي
دا چي د ا ښار وران شوی ،
کلي بمباري شوي ، کروندي له
منځه تللي دا تهول د اسلام
لپاره دي اود قيامت په ورځ به
تاسي هريو ته د خپل نړيدلي
کوراو تهو کر تهوکر بدن
اولادونه دا به تهول ستاسي
لپاره حجت او سند وي چي
ددغه دين د حفاظت لپاره مو
قرباني ورکړي دي . ددغو
قربانيو ثمره داده چي دا ښار
اوسيمه اسلامي شوه ، ناموس
محفوظ شو ، ذاکري صاحب
حاضرينو ته په خطاب کي
وويل :
اوس موږدوي پوښتني لرو : له
مسؤولينو څخه له والي نه
رانيولي تر کاتبه پوري موږته
په صداقت سره د الله تعالي
ددين د خدمت په کلکه وعده
راکوي ترخپل وس اوطاقته به
د الله پاك په کتاب او الهي
قانون د حکومت کولو وعده
راکوي .
له خلکو څخه به دا وعده اخلو
چي پدي لار کي به د خپلو
مشرانوسره تعاون کوي دوهمه
پوښتنه دا چي افغانستان
يواځي خوست ندي .
جهاد په تهول عمر کي دوه حالته
لري ، فرض عين او فرض
کفايي ، مستحب جهاد بيخي
نشته ، د کمونستي رژيم بقايا
چي په کومو سيمو کي په
قدرت کي پاتي دي هغوي بايد
خپل قدرت مسلمانانو ته
وسپاري او د مسلماناو په
حضور کي د توبې اظهار وکړي.
موږ تهولوته دا دعوت ورکوو
چي په تهول هيواد کي به ګرځو
او حکومت به د اصلاح او
اسلامي نظام د قايمولو او په
اسلامي طريقه د حکومت
چلولو ته رابولو اودي کارته به يي
اړ باسو .
موږ به په اطراف کي دا مهم
کاميابيوواوبيا به په مرکز کي
په يوه قوت د اسلامي نظام د
چلولو لپاره دريږو ، پدي لار
کي چي د هر څه ضرورت وُ
هغه به کوو . محترم ذاکري
صاحب د خوست مجاهد
اوقهرمان اولس له تاوده هرکلي
او ددغه غونډي په جوړولو کي
د محترم حقاني صاحب او
ولايتي اداري څخه د زړه له
کومي مننه څرګنده کړه او د
خير او د اسلام او وطن د
خدمت په لا ر کي يي ورته د
توفيق دعاوکړه .
په دغه غونډه کي ګڼو نورو
علماوو هم ويناوی وکړې او د
هيواد د روانو حالاتو په رابطه
يي د اتحاد علما له فيصلو او
اهدافو سره د خپل ملا تړ او
پيوستون څرګندونه وکړه او
وعده يي وکړه چي پدي لارکي
هر دول هلو ځلو او قرباني ته
حاضردي .
د غونډي په پاي کي د خوست
د مرافعي د رئيس مولوي
پيرمحمدروحاني له خواد
غونډي قطعنامه ولوستل شوه
چي موږيي په همدي ګڼه کي
خپروو.

بسم الله الرحمن الرحیم

اتحادِ علمای افغانستان

دیکشنبې په ورځ داسد په دریمه نیټه ۱۳۷۲ هـ ش دخوست دولایت والي او ولایتي کارکوونکو، نظامي قوماندانانو او قومي مشرانو داتحاد علماء افغانستان چې دافغانستان دزیاتو ولایاتو علماء دمحترم مولانا عبد الله ذاکري په شمول پکښې موجود وو ددوی تر سر پرستۍ لاندې یوه لویه جلسه چې په زرګونو مجاهدینو په کښې ګډون درلود دائره کړه.

اتحاد علماء افغانستان ، نظامي قوماندانانو له غړویو څخه یو شمیر اعضاوو دموجوده دولت او حکومت شرعي خلاګانو او نقصانونو ته داشاره کولو په ترځ کښې تفصیلي ویناوې وکړې او په پای کښې یې دلاندینو شپږو مادو دتطبیق په کلکه غوښتنه وکړه.

۱- دافغانستان له جهادي رهبرانو څخه په کلکه غوښتنه کوو چې خپل مینځي تولې شخړې داسلامي اصولو سره سم فیصله کړې او پوره وحدت رامنځ ته کړي.

۲- ددهری، الحادي حکومت ټول پخواني نظامي او ملکي کارکوونکي به فوراً له خپلو وظائفو څخه برطرف او پرځای به یې اهلیت او کفایت لرونکي مسلمان او مجاهد خلك ژر تر ژره مقرر کړي او په آینده کښې داسلامي دولت په چوکاټ کې مرتدان، زندیقان او دملحد رژیم بقایا هیڅ ځای نه لري.

۳- ټول غیر اسلامي قوانین دې عملاً لغوه کړي.

٤- سوچه اسلامي نظام دې دقرآن کریم، نبوي سنت او حنفي فقهي په رڼا کې تطبیق او عملي کړي.

٥- دستر او حجاب شرعي نظام دې فوراً عملي کړي.

٦-اوسنی حکومت چې دڅوارلسو کالو جهاد په نتیجه کښې منځ ته راغلی دی او جهادي مشرانو مسلمان ملت ته داسلامي نظام دچلولو وعده ورکړې وه او لاتر اوسه یې په خپلو وعدو عمل نه دی کړی. که چیرته دوی خپلې وعدې تر سره کړې او پورتنۍ یاد شوی مادې تطبیق کړي نو مونږ دپخوانیو څوارلسو کلونو په څیر ددوی پوره تائید او پیروي کوو او که چیرې داکارونه کړي نومونږ به داسلامي اصولو سره سم نه یوازې داچې تائید به یې نه کوو بلکې دشرعي اصولو په رڼا کښې به یې په ټینګه مخالفت کوو انشاء الله چې ددې مطلوب تر سره کولو په خاطر به په نورو ولایاتو کښې خپلو جلسوته دوام ورکوو. ومن الله التوفیق

د علماوو- قوماندانانو او قومي مخورو لاسلیکونه

تلاش های صلحجویانهٔ اتحاد علمای افغانستان

برؤیت اسناد

دارین اواخرهیئتی مشتمل ازعلماو قـــوماندانان جـــهادی افغانستان بخاطر قطع جنگ بخصوص جنگهای اخیرتگاب تحت سرپرستی اتحادعلمای افغانستان عازم کابل گردید تاباطرفهای درگیرمذاکره نموده پیشنهادات خودرادرزمینه اتش بس وحل معضله به انهاارائه نمایند.

هئیت ضـــمن مذاکرات خود پیشنهادات کـــتبی ای رانیزبه انجینراحمدشـــاه مسعود و انجینر حکمتیارتـقدیم نـمـودندکه اینك متن پـیـشنهادات وجوابات ایـــشان رادریـن شماره مجله نشر مینمایم .

* * *

بسم الله الرحمن الرحیم

اتحاد علماي افغانستان

محترم استادربانی صاحب اوحکمتیارصاحب السلام علیکم ورحمته الله وبرکاته!

امابعد...جهاد داسلام د مقدس دین په خاطروشوتریوکاله زیات وخت کیږی چه ستاسو په لاس حکومت سپارل شوی او تراوسه هغه څه چه اسلام غواړی ندی عملی شوی حتیٰ دافغانستان مسلمانان په ډیرو مشکلاتوکی راګیردی ستاسو څخه چه په حاضروخت کی د دولت او حکومت اختیاراوواك په لاس کی لری دلاندی موادوچه داتحاد علماء افغانستان او جهادی قوماندانانومشترك نظراوفیصله ده او په اوو(۷)مادو کی خلاصه شوی په کلکه سره غوښتنه کوواو له تاسوڅخه تحریری ځواب غواړو.

۱- خپل منځی اختلافات فوراًدقران اوسنت په رڼاکی حل او اعلان کړی.

۲- ټول هغه قوانین چه داسلامی شریعت خلاف او دپخوانیو څخه په میراث پاته دی لغو او باطل اعلان کړی.

۳-اسلامی قوانین داهل سنت والجماعت دحنفی فقهی په رڼاکی نافذاودچلولواعلان یی وکړی.

٤-دروس بچیان او دملحددولت بقایاداسلامی اداروڅخه که نظامی اویا ملکی وی معزول اعلان کړی او علی الفوربايد وشړل شی او داسلام بچیان یی پرځای تعین شی .

٥-داسلامی حجاب حکم فوراً اعلان او بایدعملی شی.دفرضی علم او کفاف، تعلیم اوتعلم دپاره اسلام

لاری تعین کړی دی باید هغه مراعات شی.

٦- عام انتخابات شرعاً ممنوع دي خصوصاًچه ملل متحدپکښې دقاضی او حکم وظیفه اجراکوی او حضرت فاروق اعظم او ابی جهل په رائی کی سره مساوی وی. دالله (ج)دقانون څخه خلاف عمل دی په اسلامی افغانستان کی ځای نلری.

٧- که چیرته جهادی مشران پورته مواد عملی او یو سوچه اسلامی حکومت جوړکړی موږبه نی دتیروپنځلسوکالو په څیر پیروی او تابعداری کوو انشاالله العزیز. او که چیرته دا پورته مواد عملی نکړي نه یوازی داچه تائید ئی نشو کولای بلکه دشرعی قانون سره سم به ئی مخالفت و کړو او هغه مسلمانان چه تاسوئی مشران یاست دا دهغوی غوښتنی دی چه ستاسو حضور ته پیش او دځواب په انتظار دی او هم باید ووایو چه دغه فیصله چه په اوو مادو کی خلاصه شوی ده داسلامی مجاهد ملت دطرفه تاسو ته آخری عذر دی او که بیا هم داذکر شوی فیصله تطبیق نشوه او تاسو د مسلمان ملت په عذر باندی غور ونه کړ کیدی شی چی ستاسو دتجرید سبب و گرزی. په احترام



بسم الله الرحمن الرحیم

اتحاد علمای افغانستان

تاریخ: / / ۱۳۷۰ هـ ش

برادر محترم حکمتیار صدر اعظم دولت اسلامی افغانستان

بمنظور تحلیل و بررسی وضع نابسامان فعلی کشور و جریان جنگ های دردناك وویرانی خانمانسوز و بدنام کننده برای مسلمانان و دولت اسلامی که ثمرات پر بار پانزده ساله جهاد را لحظه به لحظه نابوده می برد، اجتماعی مسؤلانه از علما و قوماندانان و اهل خبره و سران و بزرگان اقوام یوم دوشنبه ۱۷ عقرب ۱۳۷۲ در شهر جلال آباد دایر گردید.

درحالیکه در برابر وضع جاری انزجار کامل مردم مظلوم افغانستان و مراتب تأثر و تأسف همه امت اسلامی که انصار جهاد بوده اند و در رابطه با پامال شدن حرمت و مصالح ملت مسلمان و آبرو ریزی برای همه داعیون اسلام و نهضت هاي اسلامی و خطرات مداخلات شوم دشمنان و آینده تاریك رابه پا- داش پانزده ساله جهاد و قربانی بی مثال امت اسلامی به شما انتقال می دهد برای آنکه این سقوط قهقرائی از حد موجوده آن نیز جبران ناپذیر نشده باشد مواد مندرج آتی را از جناب شما خواستار است.

الف: آتش بس عاجل و فوری جنگ جاری را اعلان نمائید و قوتهای محارب در موقعیت های موجوده شان متوقف گردند.

ب: همه راه های مواصلاتی در مسیر کابل وولایات بدون قید و شرط باز گذاشته شود.

ج: برای حل مسائل متنازع فیها به هیأتی مشتمل از کبار علما و مصلحین اختیار کامل تفویض گردد تا در چوکات شریعت منور اسلام و مصالح ملت مسلمان و ارمانهای امت مسلمه به حل و فصل آن بپردازند.

بسم الله الرحمن الرحیم

اتحادِ علمای افغانستان

تاریخ: ۲۲/۸/۱۳۷۲ هـ ش

برادر محترم جنرال صاحب انجنیر احمد شاه مسعود!

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته.

بمنظور تحلیل و بررسی وضع نا بسامان فعلی کشور و جریان جنگ های دردناك وویرانی خانمانسوز و بدنام کننده برای مسلمانان و دولت اسلامی که ثمرات پر بارپانزده ساله جهاد مقدس را لحظه به لحظه به نابودی می برد، اجتماعی مسؤلانه از علماء و قوماندانان، و اهل خبره و سران و بزرگان اقوان یوم دوشنبه ۱۷ عقرب ۱۳۷۲ در شهر جلال آباد دائر گردید.

در حالیکه خطرات مداخلات شوم بیگانگان و دشمنان اسلام و آینده تاریك راروز به روز به ما و شما انتقال می دهند، براي اینکه این سقوط قهقرائی ازحد موجوده‌ء آن نیز جبران ناپذیر تر نشده باشد مواد مندرجه آتی را از جناب شما خواستار است.

الف: آتش بس فوری و عاجل جنگ جاری را اعلان نمائید و قوتهای متحارب در موقعیت های موجوده شان متوقف گردند.

ب: همه راه های مواصلاتی در مسیر کابل وولایات بدون قید و شرط باز گذاشته شود.

ج: برای حل مسائل متنازع فیها به هیأتی مشتمل از کبار علما و مصلحین اختیار کامل تفویض گردد تا در چوکات شریعت منور اسلام و مصالح ملت مسلمان و ارمانهای امت مسلمه به حل و فصل آن بپردازند.

بااحترام

مولوی محمد ظریف

دافغانستان اسلامي دولت — دولت اسلامی افغانستان

دصدارت عظمی مقام — مقام صدارت عظمی

شوری محترم اتحاد علماء افغانستان!

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته!

در رابطه با مطالب مندرجه مکتوب مورخ۱۳۷۲/۸/۱۷ تان با احترام عرض می کنم:

الف: با اعطای صلاحیت عام و تام حل وفصل همه قضایای متنازع فیها مطابق شریعت اسلامی به هیأت حکم صددر صدموافقیم و اطمینان می دهیم که نسبت به فیصله های هیئت التزام خواهیم ورزید.

ب: با توقف جنگ و اعلان اور بند موافقم، با باز شدن همه راه های مواصلاتی توافق داریم.

از خداوند کریم برای خود و شما توفیق خدمت صادقانه در راه نجات کشور ازین وضع دردناك، اقامه صلح و تشکیل نظام صد در صد اسلامی مسئلت می جویم.

با احترام

برادر تان« حکمتیار»

****

فضیلت مأب ذاکری صاحب و علمای نهایت محترم

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته!

صحت و موفقیت شما را در وظیفه ایکه در پیش گرفته اید از رب العزت خواهانم.

فرستادگان شما تشریف آوردند و روی مسائل با ایشان صحبت نمودم که ان شاء الله شما را در جریان قرار خواهند داد.

امیدوارم معضله موجود به لطف الهی و تلاش شما حل گردد.

احمد شاه مسعود

جوابات و صحبت شفاهی محترم انجنیر احمد شاه مسعود درمورد پیشنهاد صلح را محترم مولانا ذاکری سرپرست اتحاد علمای افغانستان در مصاحبه خود با رادیو بی بی سی که شام ۲۹ عقرب نشر گردید چنین بازگو کرد.

بتاریخ ۱۸ عقرب در جلال اباد اتحاد علما و قوماندانان جهادی افغانستان بشمول محترم مولوی خالص و مولوی حقانی و قاضی وقاد و سائرشخصیت های جهادی بعد از بحث و مباحثه اجتماع بزرگی را تشکیل نمودند که بعد از یك روز چنین فیصله نمودند:

۱- طرفهای درگیر در جنگ فوراً مطابق قرآن و سنت جنگ را متوقف نموده ازین عمل ناجائز که منافی شریعت اسلامی است دست بردارد.

۲- راهها باید مسدود نگردد و بدون قید و شرط باز گذاشته شود:

۳-طرفهای درگیر مسایل اختلافی خودرا به کتاب الله و سنت محول نموده از هر دو جانب هیئت مشترکی تعیین شود و مسایل اختلافی ایشان را مطابق قرآن و سنت حل نماید.

برای این موضوع هیئتی تعین گردید که در چهار آسیاب با انجنیر حکمتیار و در گلبهار با احمد شاه مسعود ملاقات نموده موضوع را باآنها درمیان گذاشتند.

درمقابل حکمتیار موافقه خودرا اظهار نموده کتباً درین مورد اظهار موافقت نمود.

احمد شاه مسعود گفتند که قبلا با این فیصله موافقت داشتم ولی حالا نظری دیگری دارم.

درموافقتنامه جلال اباد حکمتیار دو شرط داشت یکی اینکه(مسعود) ازوزارت دفاع کنار برود و دوم اینکه وی (حکمتیار) صدر اعظم باشد که هردو قبول گردید وبه آتش بس دائمی توافق حاصل شد. ولی بعد از آن حکمتیار مخالفت و تجاوز نمود و تگاب را اشغال نمود، تا وقتیکه وی یابه گفته شما از تگاب بیرون نرود و یامن به زورو جنگ آنها را از تگاب بیرون نکشم آتش بس ممکن نیست درینصورت تادو سال جنگ ادامه خواهد داشت.

محترم ذاکری صاحب گفتندکه بقایای کمونیست ها تلاش دارند که در کشور به دهشت افگنی و بی امنیتی توسعه بخشد که در بباردمان وحشیانه سروبی نیز دست انها شامل می باشد.

په جرگو باندی ورځم

شیر شاه « غیرت»

زه افغان یم نه ویریږم په اورو باندی ورځم
په ټانکونو په بمونو په گولو باندی ورځم
دخپل تن وینه به توی دوطن په نام و ننگ کړم
په سکروټو باندی درومم په اغزو باندی ورځم
دوطن دخپلواکی شمع په وینو بله ساتم
زه پتنگ دآزادی یم سرو لمبو باندی باندی ورځم
ماښودلی خپله توره هم چنگیز او هم انگریز ته
په میرانه دالحاد په سرو پوځو باندی ورځم
چی وطن می ورانوی ځوك زه به ځنگه ورته گورم
دتیرو تورو په ځوکو په چړو باندی ورځم
دجنگونو قهرمان ووم خو اوس امن سوله غواړم
زه دهریوه جنگ ډگر ته په جرگو باندی ورځم
داسلام په لار می سرکه له خپل تن نه جدا کیږی
په دی لار کښی په بمونو په گولو باندی ورځم

دمطبوعاتو تاریخ ته لنډه کتنه

عبدالجلیل وجدي

داسي ویل کیږي چي چینایان ، لومړني خلك وو چي یو ډول چاپ یي د لومړي ځل د پاره رایستلي ؤ ، دا خبره هم مشهوره ده چي کاغذ هم د لومړي ځل دپاره په چین کي اختراع شوی دي . همدارنګه لومړنی کتاب هم ۸٦۸ میلادي کال کي په چین کي چاپ شوی دی دا هم ویل کیږي چي له ټولو څخه پخواني درباري جریده Court gazetle) هم په چین کي راوتلی ده . که خبره داسي وي نو شرق د مطبوعاتو په پیدایښت کي له غرب څخه ډیر وړاندي ؤ . غرب د طباعت چل له چین څخه زده کړی دی . خو په خپله چین د ۹-۱۰ پیړیو په موده کي خپل دغه فن ته وده ورنکړای شوای .

اروپائیانو په (۱۵) پیړي کي دغه فن ته د وخت د شرایطو سره سمه وده ورکړه . د جرمني د مینز د ښاریو زرګر ګو ټنبرګ د طباعتي حروفو جوړولو کار دومره پر مخ بو تلو چي دده دغه کار یوازي د مطبوعاتو پیلامه ونه ګرځید بلکه د تاریخ یوه بله مبدا هم وبلله شوه. بلاخره دي په دې کامیاب شو چي د لرګیو د ټوټو په ځای فلزي حروف جوړ کړي . ددغو حروفو د پاره یي مناسب رنګ (سیاهي) هم جوړه کړه . ګوټنبرګ په ۱٤٥٦ کال کي دانجیل ۳۰۰ نسخي چاپ کړی . تردي وروسته د طباعت صنعت په ډیرو نورو هیوادو کي هم رواج وموند . د ایټالیي د ونیز ښار هغه ځای ؤ چي د طباعت د ښکلا مر کز و ګرځید . دا هغه وخت ؤ چي هم حکومت او هم کلیسا د طباعت صنعتګران تشویقول . کګزټون (Cax-ton) د انګلستان لومړني طباعتي صنعتکارؤ چي انګریزي ژبه یي په ۱٤۷٦ کي له طباعت سره آشنا کړه . تردې دمخه به کتابونه یوازي په لاتیني ژبه چاپیدل ، تر دې وروسته د نړۍ په تجارتي مراکزو کي طباعت ډیر زیات رواج وموند . ورځپاڼه په (۱۷۰۲) کي په لندن کي (The daily Courant) په نامه راووتله .

ارو پایي استعماریونو چي له مطبوعاتو څخه یې د یوې استعماري وسیلې په حیث کار اخیست ، په نړۍ کي ددغه صنعت لمنه زیاته خپره کړی ده .

نجامین هریس لومړنی انګریزدی
چې امریکاته د تګ سره سم یې
هلته په ۱۶۹۰ کال کې یوه
جریده د
Putlic Occurrence)
)په نامه راوایستله ترده
وروسته یو امریکایي جان
کمپبیل (John Camp-
bell) په ۱۷۰٤ کال کې یوه
امریکایی ور ځپانه چې
(Pennsylvania) نومیده
خپره کړه . فکر کیږي چې
لومړنی روسی خپرونه په
(۱۷۰۳) کې خپره شوي وه .
پرتګالیانو په ۱۵۵۰ کې هند ته
مطبعه راوړي ده لومړی، به په
دغه مطبعه باندی مذهبی
کتابونه چاپیدل ، خو چې اي
هیچي (J.A.Hichey)
لومړنی سړی و' چې په کلکته
کې یې د (Bengal Ga-
zette) په نامه یوه جریده په
انګریزی ژبه کې خپره کړه «۲»
زموږ د هیواد دوی لویی ژبی
هم د لومړي ځل د پاره
اروپائیانو د خپلو خاصو مذهبی
او استعماري هدفونو د پاره له
طباعت سره آشنا کړی دی . د
دری ژبی لومړنی چاپی اثر د
«داستان مسیح » په نامه د
لاتني ترجمی سره یو ځای په
(۱٦۳۹) میلادي کال کی ، په
لندن کي چاپ شوی دی . «۳»
همدارنګه د پښتو لومړنی چاپي
اثر د ګولدن ستیت دګشنري ده
چی په ۱۷۸۷ کی چاپ شوي ده
.

دافغانستان د مطبوعاتو پرون ته یوه کتنه :

په افغانستان کی هم مطبوعات
او د ډله ایزی مفاهمی نوری
وروستنی وسیلی د مهمو
حوادثو ، بدلونونو ، اوښتونونو
اوبحرانونو مولودې او هم
محرکې دي ، د هیواد د
مطبوعاتو پرون ته یوه لنډه
کتنه راڅرګندوي چی په
افغانستان کې مطبوعات د ۱۹
پیړی په زره کی ، چې له
انګریزانو سره د افغانانو تقریبا
سل کلنه مبارزه د بشپړتابه یوی
مهمي مرحلي ته داخلیده او د
اصلاحاتو پروسه هم ددی لوی
مبارزی یوه برخه ګرځیده مینځ
ته راوستل شول .
د افغانستان مطبوعاتو د
پیدایښت له لومړی ورځي څخه
ترننه پوری ، د بارانی او
طوفاني ورځو د لمر په څیر خپل
پوره او ډیر روڼ مخ خلکو ته نه
دی ښودلی ، د بیلو بیلو
وختونو د بحرانونو ، اختناقونو
، جنګونو او انقلابونو ، وریځو
، دوړو او ګردونو اوپه وروستیو
وختو کي د جنګو لمبو او دودونو
هغه یا په بشپړ ډول د خلکو له
نظره پټ کړي او یا یی پوره په
خپل اصلي شکل نه دی
ورښودلي،د هیواد د مطبوعاتو
په اسمان کی لومړنی راختلی
ستوري «شمس النهار» ؤ چی له نن
څخه (۱۲٤) کاله د مخه یې
دامیر شیر علی خان د سلطنت
په دوهمه دوره (۱۸٦۸م) کې
په خپلو خپرونو پیل کړی دې .
ځیني څیړونکي لیکی چې
ددغسي یو اخبار خپرول د هغو
اصلاحاتو یوه برخه وه چې سید
جمال الدین افغانی یی امیر
شیرعلی خان ته دده د سلطنت
په لومړی دوره (۱۸٦٦) کي
سپارښتنه کړیده .
ویلی کیږی چې په ځینو وختو
کی به دغه جریده ، په دوو
هفتو کي یو ځل چاپیدله . د
(شمس النهار) لومړنی ګنې ته
له کتنې څخه څرګندیږي چې
دغه جریده ، په افغانستان کي
د یوي نوی پدیدي په حیث
مجبوره شوی وه چې په خپله د
خپل ځان د پیژندنی په با ره

کې ډيرې خبرې وکړې . له مشتر کينو سره د خپلو اړيکو او له هغوی څخه د اشتراك د پيسو د تر لاسه کولو په لاروچارو رڼا واچوي . مثلاً د (اشتهار) ، (اطلاع ضروري) عناوين له همدې موضوع سره اړه لري .

د شمس النهار د داسې يوې خبرې څخه چې (....سعي در اين خواهد بود که خبر بازاري و پوچ هرگز در اين اخبار درج نگردد.....) ځرگنديږي چې دغه اخبار د بناري او محلي خبرونو په مقابل کې داسې يو دريځ درلود چې نني ژورناليزم يې نه تائيدوي البته په اصطلاح د «پوچو خبرونو » د نه خپرولو په برخه کې ورسره توافق لري . د افغانستان د مطبوعاتو دغه عنعنه چې د پخوانيو ځراغونو په څير تر خپلو پښو لاندې ځمکه په تياره کې ساتي له همدغه وخت څخه پيل شوې ده .

په ټول اخبار کې يوازې په کابل کې دبې ساري سختې واورې د اوريدو او سختې يخنې په باره کې يو خبر محلي جنبه درلوده چې د خلکو دژوندانه سره يې ډيره نږدې رابطه هم لرله - خو هغه د يوې داسې طبيعې پيښې په باره کې وُ چې غير عادي حالت يې د ځو کسو د وژل کيدو نتيجه ورکړې وه ، اجتماعي ارزښت يې يوازې دومره وُ چې په بيك توت کې ; ځو تنو سپرلی دوو ښځو ته دنجات ورکولو په باره کې خپله انساني وظيفه سرته ور رسوله . يوه دوه داسې خبروه هم پکې راغلي دي چې د افغانستان د خلکو سره يې روحي او عقيدوي نږديوالي درلود اوهغه د ځو کسانو د مسلمان کيدو د پيښو په باره کې وو، د شمس النهار د لومړی ګڼې نور خبرونه د ليرې هيوادو اوليرې قارو سره اړه لري د افغانستان د خلکو او حکومت د کارونو او فعاليتونو اجتماعي هڅو او اجتماعي تحولاتو په باره کې چې دغه وخت پيل شوي وو خبرونه يا تبصرې نه لري .

سره ددې هم ، ددې جريدې ځو نورې ګڼې چې نورو خپرونکو لوستې دې دا رابښيي چې په دولتي اعلاميو او خپرونو يې علاوه خبرونه ، ادبي ليکنې ځينې نورې داسې مقالې هم خپرولې چې د لوستونکو د فکرونو په روښانه کولو او د دوی په خبرتيا کې يې تاثيره نه وی . مثلاً په خپله يوه مقاله کې يې ليکلي دي چې په افغانستان کې ، خلکو له دې امله چې پومبه يې انګلستان په ارزانه بيه اخيستله او په مقابل کې يې خپل ټوکران ورباندې په لوړه بيه خرځول ، د پومبې له کرنې څخه ګټه نشوای کولای بلکه زيان يې ليده ، سبب يې داوُ چې دغه خلك د علم او کمال څخه بې برخې پاتې شوي وو «٤» .

يوې يو ويشت کلنې تورې دورې چې په (١٢٥٩ل- ١٨٨٠م) څخه تر (١٢٨٠ل - ١٩٠١م) پورې يې دوام وکړ د مطبوعاتو لمر په تورو وريځو کې پټ او بيا ورك کړ . په دغه موده کې چې د امير محمد يعقوب خان او امير عبدالرحمن خان د سلطنت دورې دي ملت تر دوو فشارونو (انګريزي استعمار او داخلي استبداد) لاندې راغلی وُ ، نو ځکه د اختناق اندازه ډيره زياته وه .

که څه هم د امير عبدالرحمن

خان د پاچاهي په موده کې کابل ته یوه بله مطبعه هم راوړل شوه خو هغه مستقیماً د امیر تر کنترول لاندې راغلې وه . په خپله امیر هر څه حتی لیکوال هم ؤ دده په زمانه کې کومه جریده نه چلیده خو ځیني دیوالي خپروني لکه فرمانونه ، ابلاغیې ، اعلامیې او داسې نوري مروجې وي . مگر د کتابونو چاپولو کار نسبتاً ښه په مخ روان ؤ لکه چې دده د سلطنت په موده کې لږ اوډیر (۳۰) ډوله کتابونه چاپ شوي او خپاره شوي دي .

د کوم ملت د زړه په کور کې چې د مطبوعاتو د لمر څرك لگیدلي وي ، هغه په تورو تیارو کې هم د لارې ایستلو هڅه د لاسه نه ورکوي . لکه چې د هغه وخت داستبداد په خیتړه کې یو نوي غورځنگ خپله وده پیل کوله . دا غورځنگ د مشروطیت غوښتونکو نهضت ؤ چې د امیر حبیب الله خان د پاچاهي په موده کې یې خپل ځان را ښکاره کړ . د حبیب‌الله خان سلطنت په حقیقت کې د عبدالرحمن خان د سلطنت ادامه وه خو یوې جزوي پیښې پکې د بیلوالي کرښه راویستله ، هغه دا ؤ چې د افغانستان د ژورنالیزم پلار محمود طرزي چې د مرحوم پوهاند حبیبي په قول په ترکیه کې یې د سید جمال الدین افغان له مخامخ خبرو څخه زیات اثرات اخیستي ؤ . په ۱۹۰۱ کال کې د امیر عبدالرحمن خان د فاتحې د ادا کولو او دا میر حبیب الله خان د جلوس د مبارکۍ د پاره کابل ته راغی . دده فضل او پوهې په امیر اغیزه وکړه او هیله یې تری وکړه چې کابل ته راستون شي . دې پخوا د امیر عبدالرحمن خان سره د ناوړه تفاهم له امله د خپلې کورنۍ سره د مشق ته تللي ؤ . کله چې محمود طرزي په ۱۹۰۲ کال کې کابل ته راغی لومړی یې د ژول ورنر داستانونه په دري واړول چې امیر یې ولولي ، خو د غو کارونو دده د لیکوالي اوسیاسي غوښتنو تنده ماته نه کړه نو د یوې جریدې د خپرولو د پاره یې خپلې هڅې پیل کړې «۵»

دده ددغو هڅو په نتیجه کې ، له شمس النهار څخه وروسته دوهمه جریده د افغانستان د سراج الاخبار په نامه د ۱۹۰۶ جنوري په ۱۱ نیټه راووتله ، مسؤل مدیر یې د شاهي مدرسې مدرس مولوي عبدالروف خان کندهاری ؤ . د افغانستان سراج الاخبار یوازې یوه گڼه خپره شوې ده . ویل کیږي چې د درولو علت یې د بریتانیې د حکومت مداخله وه . ددغه اخبار په دریدلو سره یو ځل بیا د تور تم حالت راپیدا شو خو په دې موده کې د کتابونو چاپولو لړۍ په ټپه ونه دریده . د ۱۹۱۱کال په وروستیو وختو کې هغه ډیوه چې د بلیدو سره سم یې رڼا ورکه شوه ، یو ځل بیا راپیداشوه او د سراج الاخبار افغانیه په نامه یې خپلو خپرونو ته دوام ورکړ .

داځل د تنویر او تودوخې دغه طاقت د علامه محمود طرزي په شان یو لوی سیاست پوه ادیب او مدبر شخصیت ته په لاس ورغی د افغانستان د ژورنالیزم پلار محمود طرزي اخبار په لنډ ډول خو په ډیره جامعه تو گه په خپلو الفاظو کې داسې تعریف کړی دی .

(اخبار جمع خبر است که ضد آن بي خبري است) په دې توگه دی د خبر تیا او بې خبری تر منځ تو-پیر ته اشاره لري او خبرتیا د هر چا د پاره ضروري بولي .

د سراج الاخبار د لومړني سر مقالي څخه څرګنده شوه چې ده هغه وخت د خبر لیکني دري مهم هدفونه (خبرول ، تعلیم ورکول او مصروف ساتل) په مخکې اچولي وو . د افغانستان د هغه وخت په شرایطو کې دمحمود طرزي د خبر نګاری څلورمه وظیفه د استعمار ضد ملت پالنه وه .

د دوو روسي محققینو (ماسون او رومادین) د لیکنو له مخي په ترکستان کې د تزاري روسیې حکمران جنرال کورا پاتکین ، د سراج الاخبار د خپرونو څخه شکایت درلود . دغه اخبار په افغانستان کې د مشروطیت غوښتونکو له ، خوا چاپیده چې نورو محکومو ولسونو ته یې هم د آزادی پیغامونه درلودل . روسان ددغه اخبار د خپرونو څخه انګریزانو ته په شکایت ورغلل او ورته ویې ویل چې د افغانستان په امیر (حبیب الله خان) فشار واچوي چې ددغه اخبار ژبه بنده کړي ، څکه چې سراج الاخبار په خلکو کې د زادي غوښتني جذبه راوېښوي او خلك درو س او انګریز په ضد راپاروي . خو انګریزانو په خپله هم ، له دوی څخه د مخه دا دول شکایت درلود . ددیلي چیف کمشنر ( ) د ۱۹۱٤ کال په سپتمبر کې د جنابي اطلاعاتو سرمامور ته ولیکل چې د سراج الاخبار د خپروني لهجې زمور ګتمي له سخت زیان سره مخامخ کړي دي باید په هند کې د هغه د خپریدو مخه ونیوله شي .

په هند کې برتانوي نایب السلطنه (وایسرای) د ۱۹۱٤کال د دسمبر په میاشت کې د افغانستان له امیر څخه وغوښتل چې په سراج الاخبار کې د بریتانیا په ضد د خپرونو مخه ونیسي ، په دغه وخت کې د سیمې د شاوخوا مطبوعاتو لکه د کلکتې حبل المتین او د ایران (عصر آزادي) او (نهضت شرق) جریدو هم د افغانستان د نهضت او مطبوعاتو پیروي کوله . «٦»

سراج الاخبار اته کاله خپور شوي دی چې د امیر حبیب‌الله خان د مړینې سره سم یې نشرات پای ته رسیدلی دي او « امان افغان » د هغه ځای نیولي دی . په دې دوره کې د خپرونو بل مهم ګام د مسلکې خپرونو خپریدل وو چې د سراج الاخبار افغانیه تر څنګ د افغاني ماشومانو له پاره د سراج ا طفال په نوم یوه جریده خپره شوه .

د خپلواکي له تر لاسه کولو وروسته د هیواد د هر اړخیزپرمختنګ لپاره د پروګرام د طرحې په ترڅ کې د خپرولو د پراختیا او پرمختګ هڅه هم وشوه . په لومړی مرحله‌کې د خپرونو ژبه د هیواد د آزدی ساتلو او د پرمختګ لپاره ګومارله شوه او په بله مرحله کې د خپرونو د غږ رسیدلو او رسا کیدو لپاره پراختیایي او پرمختیایي ګامونه پورته شول . د خپرونو وسعت اوتنوع ته پاملرنه وشوه او د هیواد ګوټ ګوټ ته د هغه د رسیدلو هڅې پیل شوې .

د مرکزي اخبار «امان افغان » تر خپریدو لږ وروسته ولایتي خپروني هم پیل شوي . اتحاد مشرقي (۱۲۹۸ اش) په ننګرهار کې ، الغازي (۱۳۰۰اش) په پکتیا کې ، اتفاق اسلام په هرات کې ، طلوع افغان (۱۳۰۰اش) په کندهار کې ، بیدار (۱۳۰۰اش) په مزارشریف کې

خپلې خپرونې پیل کړې . همدا رنګه اتحاد ، ستاره افغان اصلاح له هغو خپرونو څخه وې چې په ولایاتو کې خپریدلې .
د « افغان » په نامه د افغانستان لومړنی ورځپانه د لومړي ځل د پاره په مرکز کې راووتله . همدارنګه ارشاد النسوان (د ښځو د پاره اختصاصي جریده) ابلاغ (د- بوالي قانون خپروونکې جریده) او د (حقیقت) جریده یوه په بله پسې نشر شوې ، ورسره د معرف معارف ، مجموعه عسکریه ، آئینه عرفان مجموعه صحیه او پښتون ږغ مجلې خپرې شوې .
د افغانستان لومړني اساسي نظامنامې (اساسي قانون) چې په ۱۳۰۱ المریز کال کې تسوید او تصویب شوه په خپله (۱۱) ماده کې د افغانستان د خلکو له پاره د فکر او بیان آزادي تضمین کړه او بیا په ۱۳۰۳ کال کې د افغانستان د مطبوعاتو د لومړنی نظامنامې په خپریدو سره عملاً د ثروت ، انیس ، نسیم سحر او نوروز آزادې جریدې رامنځ ته شوې . همدا وخت د مطبوعاتو لومړنی ریاست جوړ شو او همدا وخت لومړنی آزاده مطبو عاتي محاکمه وشوه . «۷»
په افغانستان کې د مطبو- عاتو ددې بیړنی او چټکې ودې له او ج ته رسیدو سره یو ناڅاپه د سقوي دوري داړو دوړ له امله مطبو عات له سقوط او رکود سره مخامخ شول خو بیا هم رژیم ته د تبلیغ د اړتیا له امله په ټپه ونه دریدل . عاجل فرامین او ابلاغیې نشر شوې او ورسره د هیو اد مرکزي اخبار « امان افغان » د « حبیب الاسلام » په نامه خپور شو . همدارنګه د کندهار د «طلوع افغان » نوم په « مؤید الاسلام » و ګرځول شو ، په خان آباد کې د « اصلاح » پر ځای « نهضت الحبیب » او په مزار شریف کې د « اتحاد الاسلام » بیا « بیدار » پر ځای « رهبر اسلام » جرید ی خپرې شوې .
« الایمان » د یوې دینې جریدې په توګه په ننګرهار کې نشر شوه او « الاصلاح » او « اتحاد افغان » په پکتیا کې د نادر خان او شاه محمود خان له خوا چې دا وخت له سقویانو سره په جنګ وو خپاره شول . په همدې توګه دا وخت څو نورې جریدې « غیرت اسلام » د « کورغم » او «سورسات » په نومونو په کندهار او ننګرهار کې خپریدلې ، همدا راز دا وخت د « افغانستان » په نوم یوه جریده له لاهوره خپریده چې د هیواد خواخوږو پکې کار کاوه
په نادري دوره کې په سرکاري سطحه اکثره مړې شوې خپرونې را ژوندې او ځینې نوې خپرونې رامنځ ته شوې . په کابل کې د کابل مجله ،کابل کالنی ،اقتصاد مجله ، حی علی- الفلاح مجله په کندهار کې پښتو او په هرات کې د هرات ادبي مجله او د هرات د بلدیې مجله نوې خپرې شوې .
په ۱۳۲۹ کال په افغانستان کې دمطبوعاتو د دوهم قانون په نافذیدلو سره ، د سیاسي تنفس د پاره نسبي زمینه برابره شوه او مطبو عاتو د ویښ ځلمیانو تحریك ته په انعکاس ورکولو سره د خپلې ودې او پرمختګ په لاره کې یو بل مهم ګام او چټ کړ .
داوخت ترامانې دورې وروسته ، د آزادو مطبوعاتو دوهمه ځپه پیل شوه او په کابل

کې د « انګار » ، « وطن » ، « ندای خلق » ، «اولس » ، «نیلاب » او « آئینه » جریدې خپرې شوې ، د کابل انتخابي ښاروالی د « پامیر » او میمنې ښاروالي د « اتم » په نامه جریدې راوایستې او د دوی ترڅنګه « الفبا » ته په کندهار « صدای ملت » ته په هرات او پیام افغان ته په کابل کې د نشر اجازه ورکړ شوې وه .

په هیواد کې د دموکراسی د لسیزې (۱۳۴۲ - ۱۳۵۲) په پیل کیدو سره حتیٰ د سرکاري خپرونو لهجه هم بدله شوه اوپه لومړی مرحله کې چې لا آزادې جریدې نه وې خپرې شوې ، په اصلاح ، انیس او هیواد کې هم د انتقادي مقالو خپریدل پیل شول او د مطبوعاتو د یو کیفي بدلون له پاره زمینه برابره شوه . په دغه دوره کې یو زیات شمیر شخصي اوحزبي جریدې راووتې لکه : « وحدت » ، پیام امروز» ، «افغان ملت » ، « خلق » ، «مردم » ، « پیام وجدان » ، «مساوات » ، « پرچم » ، «ترجمان » ، « سبا » ، « شعله جاوید» ، « صدای عوام » ، « کاروان » ، « خیبر » ، « کمك » ، « پروانه » ، « هدف » ، « جبهه ملي » ، «سپیده دم » ، « ګهیځ » ، «پکتیکا » ، « افغان اولس » ، «اتحاد ملي » ، « روزګار » ، «ملت » ، « افغان » ، « رمز- صحت » ، « شوخك » ، « آزادي » ، «آئینه روز» ، « دارو درمل » ، « میهن » ، « برهان » ، «افکار نو » ، « پیکار » او د « ندای حق » جریدې خپرې شوې .

ددموکراسي د لسیزې آزادو مطبوعاتو د ویښ زلمیانو د دورې په څیر په ډیره سمبو لیکه ژبه خبرې نه کولې لهجه یې څه ناڅه روښانه او واضح وه . دې جریدو کولای شوای چې د خپلو امکاناتو سره سم حقایق رالوڅ کړي ، د وخت په سیاسي او فکري جریانونو رڼا واچوي ، د زړونو خبرې رابر سیره کړي او پټې شوې عقدې رالوڅې کړي ورسره یې دوارودو شویو ایډیا- لوژیو د تخمو نو د کرلو د پاره هم زمینه برابره کړه .

د ۱۳۵۲ کال د چونګاښ په ۲۶ د جمهوریت د کودتا په کیدلو سره ددیموکراسي د لسیزې پانه ونغښتله شوه . شخصي او آزادې خپرونې ټولې بندې شوې ، رسمي خپرونې اکثره په خپل حال پاتې شوې خو د کیفیت له اړخه د خپرونو ژبه او لهجه بدله شوه او حتی ټولی سر- کاري خپرونې هم د دولتي مطابعو د مسؤول مدیریت له خوا کنتل کیدې او په خلاص مټ سانسور پکې کیده . دا سانسور هم یوازې د انتقادي مطالبو د مخ نیوي لپاره ؤ خو چپي افکار خصوصاً د جمهوریت په لومړیو څو کلونو کې په خلاص مټ سرکاري خپرونو او رادیو ته لاره ومونده او کمونیستو لیکوالو پکې ځای ونیو .

د جمهوریت په دوره کې د هیواد د مرکزي اخبار نوم «جمهوریت » شو چې د « اصلاح » د ورځپاڼې ځای یې ونیو او ورسره د جمهوریت په نامه پښتو ، دري ، انګلیسي او عربي مجلې هم خپرې شوې .

د ثور د خونړې کودتا له کیدو سره د هیواد دنورو شته- منیو تر څنګ نشراتي او خبرني وسایل هم ټول د دوی لاس ته ولویدل او له هماغه لومړي ورځې نه یې د خپلو کمونستي اهدافو لپاره استخدام کړل . دوی د نورو ورانیو

ترځنګ د کلتور او مطبوعاتو په ساحه کې هڅه کوله چې تخریب یې کړي ، کمو نستي اهداف پکې ځای کړي او روسي بڼه ورکړي . د کمو نستانو مطبو عاتو دري بڼې درلودې :

۱- د خلقیانو په وخت کې د کمونستي کولو پروسه : په دې دوره کې د «جمهوریت» ورځپاڼه د «ثورانقلاب» په ورځپاڼه واړوله شوه . د هیواد نوری عامي علمي او مسلکي خپروني یې هم په کمونستي رنګ ولړلي او ټول علمي مسایل یې د مارکسیزم سره خُم ته واچول .

۲- د روسي کولو پروسه : د ۱۳۵۸ کال د مرغومي په ٦ نیټه ، افغانستان ته د روسي لښکرو په راتلو سره روسانو د خلقیانو ځای پرچمیانو ته وسپاره په ټولو ساحو کې یې د خپلو ګڼو مشاورینو په وسیله کارونه پیل کړل او پرچمي جمهور رئیس ، صدراعظم او وزیران او نور تش په نامه وو .

روسانو په لومړۍ مرحله کې د ګوند او حکومت چاري سره بیلې کړلې ، د «ثورانقلاب» مرکزي ورځپاڼه یې د روسیې د پراودا په تقلید او ترجمه د «حقیقت .....» په نوم وګرځوله او دګوند د نشراتي اورګان په توګه یې نشر کړه . «هیواد» ورځپاڼه یې د حکومت د اورګان په توګه ، «انیس» یې د پلار وطني جبهې د اورګان په توګه «ژوندون» یې د لیکوالو د اتحادیې ، «پیش آهنګ» د ماشومانو د سازمان ، «درفش جوانان» یې د ځوانانو د سازمان «زنان افغانستان» یې د ښځو د سازمان ، «کار» یې دصنفي اتحادیو ، «هنر» یې د هنر مندانو د اتحادیې او «سباوون» یې د ژورنالیستانو د اتحادیې له خوا نشر کړل او «حقیقت سرباز» یې دوزارت دفاع له خوا خپور کړ .

کمونستانو قومونو ته چې دوي ورته ملیتونه وایې د حقوقو ورکولو په نامه د ازبکو ، ترکمنو او بلوڅو لپاره د «یلدوز» ، ګوراش » او« سوب» په نومونو جریدې د دوي په ژبو خپرې کړې خو په حقیقت کې یې دا کار د افغانستان د ورونو قومونو د سره اچولو ، د دوي ترمنځ ددښمنیو د راپیدا کولو او د بیلتون راوستلو لپاره د خپل ښکیلاکي پلان له مخې کاوه ، همدا راز د پښتنو قبایلو لپاره یې د «جرګه» په نامه مجله نشر کړه او غوښتل یې چې د جرګې تر عنعنوي نامه لاندې دوي د کمو نیزم په لومه کې را ښکیل کړي .

کمونیستانو ، مستقیماً روسي خپروني هم په کابل کې نشر کړې . د «ځلمیان» او «جوانان» جریدې چې د روسیې کلتوري مرکز خپرولې . دغه مرکز د کمو نیزم ایډیالوژیکه مجله هم د «سولې ، ترقي ، او سوسیالیزم» په نامه په کابل کې خپره کړه . «پیوستون» او «همبستګي» او «دوستي» نوري خپروني دي چې دوی د خلکو د ماغزو مینځلو د پاره خپرولې .

۳- د عادي کولو پروسه : په افغانستان کې دکمونیزم او روسانو د ماتې خوړلو په نتیجه کې د کمونستانو وروستني جمهور رئیس نجیب د ملي روغې او پخلاینې سیاست ته لاس وغزاوه . له یوې خوایې د فرمایشي حزبونو د جوړولو له پاره اجازه ورکړه چې خپل نشراتي اورګانونه هم ولري او له بلې خوا یې هڅه وکړه چې دولتي خپرونو ته ملي بڼه ورکړي . او دکمونستي کولو او

روسي کولو پر ځای یې د عادي کولو لاره ونیوله . په دي سلسله کي یې یو شمیر گومارل شویو کسانو ته اجازه ورکړه چي په اصطلاح آزادي جریدي خپري کړي او گومارل شوي حزبونه نشراتي اورگانونه ولري .ددي ډول آزادو جریدو په لړ کي د « پلوشه » ، « یاحق » او « نگاه » په نوم جریدي خپرې شولي . د فرمایشي حزبونو په لړ کي د افغانستان د خلکو اسلامي حزب د « الاسلام » د افغانستان د زحمتکشانو انقلابي سازمان چي دستمي کمو نستانو یوه ډله ده د «میهن » او بزگرانو د عدالت گوند د «عدالت » په نامه جریدي خپري کړي . د سرکاري خپرونو په لهجه او کړو وړو کي هم بدلون راغی .

د حقیقت انقلاب ثور » بدنامه خپرونه یي بنده اودهغه پر ځای یي د « پیام » په نوم خپرونه راوایسته . د « اخبار هفته » په نوم یي ظاهراً یوه آزاده جریده نشرکړه چي په روسیي ، نجیب او حکومت یي هم انتقادونه کول خو په حقیقت کي د اجریده د خاد د رسوا او بدنامي اداري له خوا اداره او خپریدله .

زموږ د نن د مطبوعاتو بلطلایي اړخ د مقاومت او جهاد خپروني دي چي د کمو نستانو له کودتا او تیري سره جوخت پیل شوي او د وسله وال جهاد تر څنگ یې قلموال جهاد او مقاومت پیل کړ . په لومړي مرحله کي جهادي خپروني د پوسترونو ، ابلاغیو ، رسالو او جریدو په بڼه په یو ډیر محدود چوکاټ کی پیل شوی . د جهادي خپرونو لومړی شروع په پیښور کی وه ، بیا په ایران هند ، اروپا ، امریکا او نوری نړی کی هم پیل شوی .

« شهادت » د انجنیر حکمتیار د حزب اسلامی نشراتی اورگان او « مجاهد » د جمعیت اسلامی افغانستان نشراتی اورگان د جهاد لومړنی خپرونی وی چې په ۱۳۵۷ کال په پیښور کی نشر شوی . « صف » په اروپا کی د افغانی محصلانو د اسلامی ټولنی خپرونه وه چی په ۱۳۵۷ کال کی راووته اوهم سوم عقرب د مقاومت لومړي خپرونه وه چي ماویستو محصلینو په آروپاکي په ۱۳۵۷ کال خپره کړه . د جهاد په جریان کې د خپرونو شمیر کال په کال زیات شوی دی .

په عمومی ډول څومره خپرونی چی د افغانستان د پرون په (۱۱۰) کلنه دوره کی شوی ترهغه زیاتی خپرونی د جهاد په لس کلنه دوره کی شوی دي . د یوی هغی احصائیی له مخی چی ښاغلی رفیع (۱٦)کاله مخکی په افغانستان کی جوړه کړی وه زموږ د ټولو مهالنیو خپرونو شمیره (۱۹٦) عنوانونو ته رسیده خو هغه احصائیه چی (٦) کاله د مخه ښاغلی ننگیال د جهادي مهالنیو خپرونو په برخه کي جوړه کړي د جهادي خپرونو شمیر (۲۳٦) عنوانو ته رسیده ، په دواړو احصائیو کی یوازی هغه خپرونی راغلی چی په پښتو او دري ژبو خپری شوی وی . د نورو ژبو خپرونی چی یا هغه وخت یا دا وخت شوی په دی احصائیه کی نه دي نیول شوی .

راډیو په افغانستان کی :

د امان الله خان په وخت کی ، چی د هیواد د صنعتی کیدلو لپاره لومړنی بیړنی

هڅې رواني وې . نو د مطبوعاتو د پراختيا او پرمختگ په څنګ کې راډيويي نشراتو ته هم پاملرنه وشوه . لومړی پلا د راډيو دوه کوچنۍ دستگاوې د افغانستان د هغه وخت د حکومت له خوا راونيولي شوې چې يوه يې په ۱۳۰٦ کال کې په کابل نصب شوه او په نظر کې وُ چې بله يې په کندهار کې فعاله شي . په هغه وخت کې د راډيو داسي يوه ۲۰۰ واټه دستگاه په زياترو اسيايي هيوادونو کې نه وه فعاله شوې . لومړی ځل د راډيويي نشراتو د خپريدو توان ډير زيات نه وُ . د دستگاه له نصب کيدو څخه د مخه (۳۰) بټرۍ لرونکې راډيوگانې په خلکو وويشلې شوې . د راډيو لومړنۍ دستگاه په لندنۍ کوټې (کوټې لندني) کې نصب او آنټن يې هم د دې کوټې په چمن کې ودرول شو . د راډيو اداره په داخله وزارت پورې تړل شوې وه اوهيوازې دوه ساعته خپرونې يې لرلې .

د اماني دورې له پای ته رسيدلو او په افغانستان کې د اغتشاش له راتلو وروسته راډيويي خپرونې هم په ټپه ودريدې په دغه وخت کې د خبرونو او موسيقۍ د پاره پاريدلي تلوسه به د برتانوي هند ، آلمان او روسيې او نورو ځايونو راډيوگانو ته په غوږ نيولو سره تسکينيدله . په دغه وخت کې په افغانستان کې د انگلستان ، امريکې ، ايټاليې او روسيې له خوا جوړې شوې راډيوگانې د افغاني سوداگرو له خوا وارد کيدلې او په بازارونو کې خرڅيدلې . په اردو ژبه د هندوستان خبرونو او هندي موسيقۍ په افغانستان کې زيات اوريدونکي درلودل .

په اساسي ډول د راډيو د خپرونو د بيا پيل کولو د پاره مقدماتي کارونه له ۱۳۱٤ څخه پيل شول . د منځنۍ څپې د يوې راديوي دستگاه د رانيولو او نصبولو يو تړون د آلمان سره لاسليك شو . همدارنگه حکومت له ټولو نايب-الحکومه گانو څخه وغوښتل چې د خپلو مربوط سيمو څخه شاعران ، اديبان ، هنرمندان او د ذوق خاوندان ورمعرفي کړي . په کابل کې د راډيويي نشراتو له پاره يوه فني اداره او يو تخنيکي کورس جوړ شو د دستگاه د راوړلو اونصبولو کارونه تر ۱۳۱۹ کال پورې بشپړ شول د راديو اساسي خپرونې د ۱۳۲۰ کال د حمل په لومړۍ نيټه ، د هغه وخت د صدارت د لومړي مرستيال او د پوهنې د وزير سردار محمد نعيم په پښتو وينا پيل شوې .

تر دې وروسته د راډ يو په تخنيکي اونشراتي ساحو کې ډيرې پر مختيا وې مشوسيدلي ، د پرمختيا دې سلسلې با لاخره خپل ځان د هيواد د انکشافي پلانونو سره ونښلا وه . تردې چې د کابل په انصاري واټ کې د راديو افغانستان نوې مجهزه او عصري ودانۍ پرانستل شوه او د هيواد د دوهم پرمختيايي پلان په اساس د راډيو افغانستان تخنيکي اونشراتي امکانات پر اخ شول اوتردې وروسته هڅه داوه چې منطقوي ليږدوونکي اخذې بشپړې شي .

په ۱۳٤٥ کال کې راډيو دورځې ۱٤ ساعته نشرات لرل په دغه وخت کې په بهرنيو خپرونو کې په روسي اوجرمني

ژبو هم خپرونې پیل شوې وې . په ۱۳۴۶ کال کې یې خپرونې تر ۱۵ ساعتو ورسیدې او ۷۵ جلا جلا خپرونې یې لرلې .

د داود خان له کودتا سره (۱۳۵۲ سرطان) د راډیو افغانستان په خپرونو کې څه ډېر زیات محسوس بدلونونه رامنځ ته نه شول .

د ثورد کودتا سره سم راډیو زموږ د ملت او شاوخوا ګاونډیو هیوادو په ضد د تبلیغاتي جګړې یوه لویه اډه وګرځول شوه . د راډیو بشپړ کنترول ل ګوندیانو واخیست . د خپرونو محتویات یې د خپل ګوند د کمونستي مرامونو په اساس وټاکل . په راډیو کې یې د خپلو فکري او ګوندي غوښتنو په بنسټ ځیني نوې خپرونې رامنځ ته کړې . په دغه وخت کې په راډیو کې روسي اثرات اوتاثیرات زیات شول . د خپلو تبلیغاتو د پاره یې د ورونو قومونو له ژبو څخه هم زیاته استفاده وکړه .

له روسي یرغل وروسته د راډیو- یي امکاناتو د لازیاتو پراخیدلو هڅه وشوه . دا کار ددې لپاره وشو چې یو خو خپل تبلیغات هم د افغانستان خلکو او هم نړیوالوته ورسولي شي او له بلې خوا دا چې د راډیویي خپرونو شمیر او امواج او فریکونسي دومره متنوع کړي چې خلک د نوې نړۍ راډیو- ګانې اونه وریدلې شي .

په همدې منظور په بیلا بیلو وختونو کې د راډیو- یي نشراتو او حتیٰ جلاجلا راډیو ګانو د رامنځ ته کیدلو لپاره هڅې وشوې . په جلا ل- آباد ، کندهار ، هرات ، بلخ ، ګردیز ، خوست او د ځینو نورو ولایتونو په مرکزو کې محلي ولایتي راډیو ګانې فعالې شوې او دهغوې د تبلیغاتو په خدمت کې ولویدې او دنشراتو حجم ډیر زیات شو . په وروستیو کلونو کې د شرقي المان په مالي او تخنیکي مرسته راډیو افغانستان دمرکزي ستو ډیو ګانو د پراخیدو او نویو ستوډیوګانو د جوړولو کار د راډیو تلویزیون د ودانې غربي اړخ ته پیل شوې ؤ «۸»

تلویزیون په افغانستان کې:

د ۱۳۵۱ کال په وروستیو میاشتو کې هغه وخت چې اروابناد محمد موسیٰ شفیق د شاهي رژیم یو پوه او فعال صدراعظم ؤ او د ژورنالیزم یو استاد بناغلي صباح الدین کشکي د اطلاعات او کلتور د وزارت چارې پرمخ بیولې ، په افغانستان کې د تلویزیون د جوړیدو پلان تصویب شو .

د کابل په بنار کې د تلویزیون مرکزي ستډیو د راډیو افغانستان په انګړ کې د مرحوم داود خان د جمهوري ریاست په موده کې د جاپان د هیواد په تخنیکي او علمي مرستو جوړه شوه . دغه تلویزیون په لومړي سرکې د تعلیمي خپرونو اوصحي پروګرامونو له پاره چې دورځې به له یو نیم تر دوو ساعتونو پورې خپرونې کوې جوړ شوی ؤ چې په امتحاني ډول یې د ۱۳۵۶ کال د حوت د میاشتې په ۲۵ نیټه خپرونې پیل کړې . په نظر کې ؤ چې د ۱۳۵۷ کال د سرطان په ۲۶ به پرانستل کیږي . مګر له بده مرغه داسې ونه شول

، د افغانستان تلویزیون د پرانستل کیدو نه د مخه د روسانو او هغوی د نوکرانو په خدمت کې ولوېد ، د افکارو د تعمیر په ځای د افکارو د تخریب د پاره وسیله و گرځید .

دغه تلویزیون د جاپان په مرسته په (پال سکیم)ډول جوړشوی وُ چې د نړی له عصري دستگاوو څخه شمیرل کیږي او په سیمه کې ساري نه لري .

د ۱۳۶۶ کال په پیل کې د مسکو د تلویزیون یو دایر کتر راوستل شو چې د کابل د تلویزیون خپروني په روسي تیپ برابري کړي . د راډیو تلویزیون روسي مشاورینو په مستقیم ډول د تلویزیوني خپرونو په ایډیټ کې برخه اخیستله . ان تردې چې د مرکزي کمیټې روسي مشاورینو په مستقیمه توگه خپل امرونه صادرول .

د افغانستان تلویزیون د جاپان په مرسته په پال سکیم ډول جوړشوي و چې د نړی له عصري د ستگاوو څخه شمیرل کیده او په سیمه کې یې ساري نه درلود . روسانو غوښتل چې د سیمې له دې مهمې تلویزیوني د ستگاه څخه د خپلو تبلیغاتو د پاره د نړیوالې اډې په توگه کار واخلي . نو دوې ستري مخابراتي د ستگاوې یې د راډیو تلویزیون په انگړ کې ودرولې چې یوه یې د مارس دستگاه اوبله یې د شمشاد دستگاه وه . د مسکو د تلویزیون خپروني اوهغه څه چې روسانو آسیایي سیمو ته خپرولې ، د مارس ددستگاه په وسیله له مصنوعي سپوږمي (انترسپوتنیک) څخه اخیستل کیدی او خپریدی. روسانو په دې ډول غوښتل په افغانستان کې د نورو گاونډیو هیوادونو له تلویزیوني خپرُنو څخه مخ نیوی وکړي . ددې دستگاه زور او قوت زیات نه وُ څکه هغه د افغانستان څخه وایستل شوه . ویل کیدل چې هغه کوم افریقایي هیواد ته واستول شوه ، پرځای یې یوه بله د ستگاه چې (لوتوس) نومیده او رژیم د شمشاد نوم وربانډي کیښود په ۱۳۶۱ کې له روسیې څخه راوړل شوه . دغې ډیرې مجهزې د ستگاه څو کانالونه درلودل چې د تلویزیوني خپرونو څخه علاوه په مخابراتي او استخباراتي چاروکې هم ورڅخه استفاده کیدله . د (شمشاد) دستگاه کولای شول چې د کابل د تلویزیون له مرکزي ستډیو نه د نړې هوی تلویزیوني شبکې ته د انترسپوتنیک له لارې مواد ورکړي او له نوروُشبکو څخه هم اطلاعات تر لاسه کړي . ددې دستگاه ټول ښه امکانات یوازې او یوازې د شوروي او کمونیزم د تبلیغاتو د پاره وقف شوي وو.

له دې امله چې تلویزیون د کمونستي او روسي پروپاگندې د خپرولو ډیره ښه وسیله وه نو د تلویزیوني شبکې لمنه د هیواد نورو ولایاتو ته هم وغځیدله لکه چې تر ۱۳۶۶ کال پورې د کابل په گډون ، په بدخشان ، بغلان ، بلخ ، جوزجان ، هرات ، فراه ، هلمند ، کندهار ، خوست ،• گردیز ، غزني ، ننگرهار او کنړونو کې هم د تلویزیون خپروني پیل شوي وي .

د افغانستان تلویزیون شبکه په خپله د افغاستان د خلکو د پاره نه د سالمې خبرتیا او نه د سالمې تفریح وسیله وه٬لوي هدف یې د دښمن په گټه تبلیغات

کول او د افغانستان د خلکو د عامه افکارو تخریبول وو. ددي دستګاه او د هغي د کارکوونکو په ضد د خلکو کوکه ورځ په ورځ زیاتیدله . د کابل ښاریانو د راډیو تلویزیون د دولتي کمیټي د رئیس ، د تلویزیون د رئیس ، مرستیال او نورو مسؤلینو د تیلفو- نولمبرونه اخستي وو . کله به چي خپروني پیل شوي . نو دکنځلو تیلفو نونه به هم ورسره سم پیل شول . د یو مسئول د خولي خبره ده چي « من بعد از شش بجه در تیلفون مستقیم هیچ گپ نمي زنم ، زیرا که غیر از دو زدن چیزي دیگري نیست » دغه راز د تلویزیون د هغه وخت رئیس عبدالله شادان به ویل چي « هر شب من بیش از صد ها بار دشنام مي شنوم لاکن چه کنیم چاره چیست ؟» .

د تلویزیون کمونستي کارکوونکو یو بل ته یوازي په یوه خبره تسلي ورکوله اوهغه داوه : « موږ د مخالفینو ګولي منلي دي خبرې خو یو عادي کاردي.» «۹»

ماخذونه :

۱- G.K Puri (MA English and pol science) Journalism comptition Review PVT 604/Prathat kiran Rajendra place new Delhi- ۱۱۰۰۰۸

۲- همدغه منبع

۳- پوهاند دکتور احمد جاوید پښتو چاپي آثار (په وروستیو دوو پیړیو کي د پښتو چاپي آثارو د مقالو مجموعه) ۲۳۰ مخ د کابل چاپ عقرب ۱۳۵۷

٤- محمد کاظم آهنګ او داکتر محمدظاهر صدیق - مطبوعاتو ته یوه کتنه (د افغانستان د مطبوعاتو د ورځي په ویاړ یوه خپرونه) د ۱۳۵۱ کال د وږي ۱٦ کابل . افغانستان

٥- همدغه منبع

٦- مرحوم پوهاند حبیبي - نهضت مشروطیت خواهي در افغانستان .

۷- حبیب الله رفیع افغاني مهالني خپروني په پرون ، نن اوسبا کي . د افغانستان په راتلونکي تولنه کي د تولنیزو اړیکو د وسایلو سیمینار د (۱۳۷۰ کال د غویي دمیاشتي له ۲۱-٤٤ پوري) اسلام آباد کي د افغانستان د جهاد ثقافتي شورا - په دي لیکنه کي د ښاغلي رفیع له څیړنې څخه زیاته استفاده شوي ده

۸- زرین انځور - په افغانستان کي د راډیو تاریخچه او دڅور تر کودتا وروسته د راډیو انکشافات او انحرافات (په همدغه سیمینار کي لوستل شوي مقاله)

۹- میا آروال - په افغانستان کي د تلویزیون رامنځ ته کیدل او دمخه د روسي کولو پړ وسه - خپلواکي شپږم کال ، پنځمه ګنه ۱۳۷۰ هـ ش (۷۱-۹۰) مخونه .

کډې باربړي

محمد عارف (غروال)

هغه ورځ چې دمهاجرینو دیو کمپ تر څنګ تیریدم، ومې لیدل چې لاری دخیمو په مخکې ولاړې دي او دیو شمیر کورونو لوی واړه په ډیره بیړه لګیادی دخپلو کورونو سامان پکې باروي، دماشومانو شورماشور.او دلویانو دهله ژر شی او آزونو زه وهڅولم چې لږ ور نژدې شم او ددوی دکډو دبارولو په راز ځان خبر کړم.

چې لږ ور نژدې شوم ومې کتل چې دځو تنوپه مخونو نرې نرې اوښکې روانې دې او په داسې حال کې چې دکور دسامان په راغونډولو بوخت وو له نریو اوښکو سره جوخت یې په شوندو مسکاهم خوره وه، زه دې حالت نور هم حیران کړم. نو مې له یوتن څخه دکډو دبارولو دسبب پوښتنه وکړه، هغه وویل: وطن ته ځو! ډوطن ته ځو ،دکلمې په اوریدلو سره زما په سترګو کې هم اوښکې راغلې ځکه له یوې خوا وطن ته دتګ خوشالي او له بلې خوا په وطن کې بې هدفه او بې نتیجې جنګونه دواړه حالتونه راته مخې ته مجسم شول، نو مې له ځانه سره وویل: کاشکې خدایه! په وطن کې مو امن وای، استقرار وای او دمسلمانانو ترمنځ ورورې او محبت وای، ترڅو بیرته ستنیدونکې هیواد وال په پوره ډاډ او اطمینان خپلو کورونو ته ستانه شوی وای، خو له دې سره سره بیاهم دکډو دبارولو په وخت کې له ډیرې خوشحالۍ نه ددوی پرمخ اوښکې روانې دي، نوکه دغه مشکلات یې په مخکې نه وای بیا به نو دغه خوشالي خامخا څو برابره زیاته وای.

زه له دوی څخه راستون شوم، قلم او کاغذ مې را واخیست او دکډو بارولو اوپه هیواد کې دامن او استقرار دنشتوالی حالت مې دیوه سروکې په بڼه انځور کړ چې دادی ددرنو لوستونکو مخې ته یې ږدم.

له خوشالۍ نه اوښکې مړې په مخ بهیږي وطن ته ځینه
کډې باربړي - وطن ته ځینه
زما دګل په شان وطن دی وطن ته ځینه
دګل په شان وطن مې وران شو لا ورانیږي - وطن ته ځینه
کډې باربړي - وطن ته ځینه
ماوی ارمان به مې پوره شي - وطن ته ځینه
خو ارمانونه مې ترخاورو لاند ی کیږي - وطن ته ځینه
کډې باربړي - وطن ته ځینه
خدایه داڅه کاني را وشوې وطن ته ځینه
په شخصي ګټو ورور له ورور سره جنګیږي - وطن ته ځینه
کډې باربړي وطن ته ځینه
پروني ورونه دښمنان شول وطن ته ځینه
خلقي، پرچم ورته له ورایه خوشالیږي - وطن ته ځینه

کډې باربړي - وطن ته ځینه
دافغانانو دې خدای مل شي - وطن ته ځینه
پنځلس کاله پرې بمونه راوریږي - وطن ته ځینه
کډې باربړي - وطن ته ځینه
ماسره نور غمونه.نشته - وطن ته ځینه
دوطن غم دی چې وجود مې پرې سوزیږي - وطن ته ځینه
کډې باربړي - وطن ته ځینه
غروال دغره په څوکه ناست دی - وطن ته ځینه
دګران وطن ویجاړ حالت باندې ژړیږي - وطن ته ځینه
کډې باربړي - وطن ته ځینه

کوڅه ډب

محترم مولوی محمد یونس خالص

شیطان ترینه جوړیږي چې انسان شي کوڅه ډب
یاران شي ترې بیزاره چې یاران شي کوڅه ډب

نن دلته سبا هلتــه کله سم او کله کــوږ شــــي
سم جوړ شي منافق چې مسلمان شي کوڅه ډب

نو کر داستعمار شي خپل ملت په نورو پــــلوري
دکوم هیواد چې، پوه ملي ځوانان شي کوڅه ډب

وباشي قام کې ګډه دژوندون بــیړی چــپه شـــي
دچاچی ملایان او واعظان شي کــوڅــــه ډب

وطن ساتلی نشي په چوکی چې کړي جــــنګونه
ګیدړی ترینه سني دی چې زمریان شی کوڅه ډب

دهری کوڅې سپی شي دهرچا ډول تـــه بـــه ناڅي
ځان پلوري په پیسو چې ماموران شي کوڅه ډب

پرون یې دخلقیانو نن زمـــوږه مـــداحـــي کـــړي
چې کله شرمیدلي شاعران شـــي کــوڅــــه ډب

وجدان ترې کډه واخلی لیاقت یې رزالـــت شـــي
کم سیالو نه کم سیال شی چې سیالان شي کوڅه ډب

خالصه خیر دې غواړه چې شپې ورځـې دې تـــرخیږي
چې غله شي مجاهد او رهبران شي کــوڅـــه ډب

د خوست هوايي ډګر د پروازونو
لپاره پرانيستی دی
OY-G
د ملګرو ملتو يوه الوتکه
د خوست په هوايي ډګر کې